# د افغان میرمنو له نظره عدالت:

# د منځګړیتوب او د محکمو د پریکړو د لارې پر ښځو د تاوتریخوالي د قضیو حل



د ملګرو ملتونو د بشري حقونو عالي کمیشنري

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی (یوناما)

کابل ، افغانستان

اپریل ۲۰۱۵

# د افغان میرمنو له نظره عدالت:

# د منځګړیتوب اود محکمو د پریکړو د لارې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د قضیو حل

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی (یوناما)

د ملګرو ملتونو د بشري حقونو عالي کمیشنري

کابل ، افغانستان

اپریل ۲۰۱۵




Map No. 3958 Rev. 7 UNITED NATIONS
June 2011

Department of Field Support
Cartographic Section

# د موضوعاتو لړ لیک


اصطلاح کانې او مخففات ........ i

۱. لنډیز ........ ۱

۱.۱ سپارښتنې ........ ۵

۲. ۲۰۱۴-۲۰۱۵ کلونو شرایط ........ ۷

۳. میتودولوژي ........ ۱۰

۴. له ښځو سره د تاوتریخوالي پر ضد د مبارزې قانوني چوکاټ ........ ۱۱

۵. د مستندو قضیو انځور ........ ۱۶

۶. موندنې ........ ۱۸

۶.۱ د شکایت ثبتول ........ ۱۸

۶.۲ د محکمې د قضاوت یا منځګړیتوب له لارې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د شکایتونو/قضیو حل ........ ۱۹

۶.۳ د دوسیو دحل په اړه د ژغورل شویو کسانو لرلیدونه ........ ۲۴

۶.٤ د ښځو د قضیو د پایلو په اړه د هغوی لرلیدونه ........ ۲۹

۶.۵ د نړیوالو اصولو سره د محکمو د قضاوت د پریکړو او د منځګړیتوب د کړنو مطابقت ........ ۳۰

۷. کلیدي ننګونې ........ ۳۲

۷.۱. په اوسنې حقوقي چوکاټ کې تشې ........ ۳۲

۷.۲ د منځګړیتوب د معیاري طرزالعملونو نشتوالی ........ ۳۳

۷.۳ د قضیو د منځګړیتوب د فعالینو نامتوازنه روزنه ........ ۳٤

۷.۴ د منځګړیتوب شویو پریکړو او تړونونو د تنفیذ نشتوالی ........ ۳۵

۷.۵ د جنایي عدالت د سیستم کمزورتیاوې ........ ۳۵

۷.۶ د ښځو پر پریکړو د دودیزو او مذهبی انګېرنو/روشونو اغیزه ........ ۳۶

۷.۷ اقتصادي زیانمنتوب ........ ۳۶

۸. پایله ........ ۳۷

لومړی ضمیمه: د منځګړیتوب په پریکړو کې د وضع شویو شرایطو بیلګې ........ ۳۹

## اصطلاح ګانی او مخففات

| | |
|---|---|
| AGO | د لويې څارنوالۍ دفتر |
| AIHRC | د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون |
| ANP | افغان ملي پوليس |
| CEDAW | د ښځو پروړاندې د هر ډول تبعيض د له منځه وړلو کنوانسيون |
| CoEVAW | پر ښځو د تاوتريخوالي له منځه وړلو کميسيون |
| DoWA | د ښځو د چارو رياست |
| EVAW Law | د ښځې پر عليه د تاوتريخوالی د منع قانون |
| FRU | د کورنۍ د غبرګون څانګه |
| MoI | د کورنيو چارو وزارت |
| MoJ | د عدليې وزارت |
| MoWA | د ښځو چارو وزارت |
| OHCHR | د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنر دفتر |
| UNAMA | د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندويه پلاوی |

## پشتو ، دري او عربي اصطلاحات

بد: د قتل يا نورو جرمونو د جبران لپاره د ښځې ورکول څو چې د کورنيو تر منځ سوله او همغږي راولي

بدل: بدل ودونه ، زياتره له دوو کورنيو څخه د لوڼو يا خويندو د ناوو په حيث بدلول

حديث: د پيغمبر محمد(ص) د رواياتو مجموعه ده چې د هغه ويناوې او د ورځنيو اعمالو بيان په کې شامل دی (سنت) او له قرانکريم څخه پرته د مسلمانانو لپاره د لارښوونې يوه ستره سرچينه ده.

حدود: حد دالله تعالی د حکمونو په وړاندې هغه جرايم دي ، د کومو لپاره چې په اسلامي شريعت کې جزاګانې تعيين شوې او جبري بڼه لري نه اختياري. په حدودو کې دغه اوه جرمونه شامل دي: زنا ، غلا ، قطاع الطريقي ، قذف ، بغاوت ، د شرابو څښل او ارتداد.

حقوق: د حقوقو عمومي رياست په کابل کې موقعيت لري چې د حقوقي او حکمي اشخاصو تر منځ د قرض ، ملکيتونو او کورنيو اړونده منازعې د جزايي اجرااتو دقانون او د حقوقو د لاسته راوړلو د قانون سره سم حل کوي. د حقوقو رياستونه د افغانستان په ۳۴ ولايتونو کې شتون لري.

عدت: عدت یا د انتظار موده یوه مشخصه موده ده د کومې له پاي څخه وروسته چې د واده  ټول مراتب پای ته رسیږي.

جرګه: د مشرانو غونډه

مهر: د پیسو یو مقدار دی چې د زوم له خوا د واده  په وخت کې  خپلې ناوې ته په مستقیم ډول وعده ورکول کیږي. په معمول ډول د مهر ژمنه له واده ترمخه کیږي خو کېدای شي چې له هغه وروسته اداء شي او د ډیرو د نورو کلونو لپاره هم په تعلیق کې پاتې کیدای شي.

شریعت: د قوانینو مجموعه چې له قرانکریم او د پیغمبر محمد(ص) له ښوونو او کړنو څخه را اخیستل شوي وي

شورا: محلي غونډه

تعزیر: له هغو جرایمو او جزاګانو څخه عبارت دي چې د اسلامي شریعت پر ځای د قانون له خوا تصریح او ټاکل شوې وي.

زنا: له  واده سره سره بهر جنسي اړیکي

## ۱. لنډيز

> *" ما پخپله خوښه پريکړه وکړه چې خپل شکايت بيرته واخلم ځکه چې دا مې غوره ګڼله چې د خپلې کورنۍ سره يوځای شم. زما ماشومان اوس په ښوونځي کې درسونه لولي. که چېرې زما ميړه د عدلي تعقيب لاندې راشي نو بيا به څوک زما او زما د ماشومانو پالنه او ملاتړ کوي؟ "*
>
> **ب ، ۲۵ کلنه ، د تخار ولايت ، د هغې د ميړه پر خلاف د وهلو اود جرحې په اړه شکايت ،ډسمبر ۲۰۱۴**

د ۲۰۱۰ کال څخه د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندويه پلاوی(يوناما) او د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنر دفتر د افغانستان په کچه پر ښځو د تاوتريخوالي پيښې او د افغانستان د حکومت هلې ځلې يې چې دغه ډول پيښو ته رسيدګي وکړي مشاهده کړي ، په تيره بيا د ۲۰۰۹ کال د پر ښځو د تاوتريخوالي د منعٔد قانون د پلي کولو د لارې مستندې کړې دي.[۱]

اوسنی راپور په ژوره توګه پخپله د ښځينه شکايت کوونکو له نظره هغه لاملونه ارزوي چې افغان ميرمنې په دې څواکمنوي يا يې مخنيوی کوي چې د هغوي په وړاندې د سرته رسيدلي تاوتريخوالي په لړ کې د تلافي کيدو له هغو لارو چارو څخه ګټه واخلي چې د قانون په ذريعه تياری شوي دي. دغه راپور د ۱۱۰ هغو ښځوانفرادي تجربې مستندې کوي چې د قضايي سيستم د لارې د ثبت ، تحقيق ، د عدلي تعقيب څخه تر قضاوته پورې ، او د غير قضايي ميکانيزمونو د لارې ، په تيره بيا منځګړيتوب[۲] چې پر ښځو د تاوتريخوالي د منع د قانون د لاندې ترسره شوې وي د عدالت په لټه کې دي. يوناما په ډاګه کوي چې داسې يوه لاره چې هغه د ښځو په مستقيمو تجربو متمرکز وي او د ښځو ژورې کتنې او اندېښنې راسپړي ، کولای شي په ښه توګه د پاليسي او ادراي اصلاحاتو لپاره چې عدالت ته دښځو په رسېدنه کې ښه والی راولي په ښه توګه معلومات برابر او پرې اغيز ولري.

دغه راپور د هغو ۱۱۰ ښځو او نجونو تجربو ته انعکاس ورکوي کومې چې د تاوتريخوالی قربانيانې وې او د چا شکايتونو ته چې د محکمې د پريکړې/ قضاوت[۳] (جنايي عدلي تعقيب) يا منځګړيتوب[٤] د لارې رسېدنه شوې ده. د تاوتريخوالي هغه اعمال چې ښځو او نجونو يې راپور ورکړی دی پر ښځو د تاوتريخوالي د منع د قانون[۵] د لارې جرم ګڼل شوی او مجازات ټاکل شوي دي.

---

[۱] يوناما / د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنر دفتر پخپلو پخوانيو راپورونو کې د هېواد په کچه د قضايي او د قانون د انفاذ د ادارو له خوا د ښځې پر عليه د تاوتريخوالي د منع د قانون د تطبيق په برخه کې پر مختګونه او هم رواني موجودې تشې موندلي دي. په تيره بيا ، د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي د هغو پيښو د راپور ورکولو په لړ کې زياتوالی چې د عدلي تعقيب او محاکمو له خوا د دغه قانون د تطبيق په برخه کې لږ زياتوالي راغلي دي. په افغانستان کې ښځې د هغه پراخه تاوتريخوالي سره مخ دي چې تعبيض ، د موجودو ټولنيزو نورمونو او زيان راوړونکو دوديزو کړنو څخه چې د قانون په وړاندې د ښځو او نارينه وو برابري او د برابرو حقونو اصول او قانوني مکلفيتونه له پامه غورځوي راپورته کيږي. وګورئ يوناما/ د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنردفتر: *د تګ يوه لاره- په افغانستان کې د ښځو بر عليه د تاوتريخوالي د منع د قانون د تطبيق په اړه تازه معلومات (*ډسمبر ۲۰۱۳ ) ، *تر مخ د تګ اوږده لار- په افغانستان کې د ښځې پر عليه د تاوتريخوالي د منع د قانون پلي کول (*ډسمبر ۲۰۱۲ ) ، د *مخ د تګ اوږده لار- په افغانستان کې د ښځې پر عليه د تاوتريخوالي د منع د قانون پلي کول (*نومبر ۲۰۱۱ ) او زيان راوړونکې دوديزې کړنې او په افغانستان کې *د ښځې پر عليه د تاوتريخوالي د منع د قانون پلي کول (*ډسمبر ۲۰۱۰ ) ، دا ټول په لاندې پته د لاس رسي وړ دي: .http://www.ohchr.org/EN/Countries/AsiaRegion/Pages/HRReports.aspx

[۲] د دې راپور په موخه د " منځګړيتوب" اصطلاح هرې هغې هڅې ته راجع کيږي چې يوه شخړه د دواړو خواوو په هوکړې او د اړخونو تر منځ په پخلاينې سره د افغانستان د اساسي قانون د ۵۴ مادې د مکلفيتونو پر بنسټ چې د کورنۍ موسسه بايد محافظت شي حل کړای شي.

[۳] د دې راپور په موخه د " قضاوت" اصطلاح په دې مانا ده چې په رسمي توګه د محکمې د جريان له مخې د قضاوت يوه پريکړه اعلان شي.

[٤] د انفرادي قضيو لپاره چې د منځګړيتوب د لارې حل شوي دي ، يوناما د منځګړيتوب پروسې او پايلې يې د جريانونو د مستقيمې او غير مستقيمې مشاهدې او د هغو فعالانو سره د متقابل تعامل له لارې چې منځګړيتوب ترسره کوي چې په کې د ښځې پر عليه د تاوتريخوالي د منع د قانون موسسې او د شخړې د حل دوديز ميکانيزمونه شامل دي د لارې مستندې کړي دي. د جزايي عدلي تعقيب د قضايي اجراآتو په اړه معلومات د قضايي او قانون د انفاذ د چارواکو او ښځينه شکايت کوونکو سره د تعاملاتو د لارې تر لاسه کړي دي.

[۵] د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي کړنې چې د ښځې پر عليه د تاوتريخوالي د منع د قانون (د يوناما د ساحوي څيړنو په چوکاټ کې) جرم ګڼل شوي او ورباندې مجازات لګول شوي دي په دې ډول دي: په زور سره بد لمنۍ ته اړ باسل(۱۸ ماده)؛ په زيانمنوونکې توګه د قرباني د هويت عامه محضر ته را ويستل(۱۹ ماده)؛ په اور کې سوځول ، د کيمياوي او نورو خطرناکو موادو ( ۲۰ ماده) کارول ؛ يوه ښځه دې ته اړ باسل چې ځان وسوځوي(۲۱ ماده)؛ وهل (۲۳ ماده) ؛ د ښځو د واده په منظور او پلمه پلورل او رانيول(۲۴ ماده)؛ بد (۲۵ ماده) ؛ په جبري توګه واده کول (۲۶ ماده ) ؛ د ميړه د غوره کولو د حق سلبول (۲۷ ماده) ؛ د قانوني سن د بشپړولو څخه تر مخه واده کول(۲۸ ماده)؛ ښځې ته ښکنځل کول ، تحقير او يا تخويف(۲۹ ماده)؛ ازار او اذيت ( ۳۰ ماده)؛ اجباري انزوا(۳۱ ماده)؛ په نشه يي توکو روږد کيدو ته مجبورول (۳۲ ماده)؛ په ارث کې له تصرف د حقونو څخه منع کول (۳۳ ماده)؛ په

وهل او د بدن جراحت پیښې ډیرې رایجې (۴۵ سلنه) وې ، چې ورپسې ځورول/ ناوړه ګټه اخیستل ، تحقیر او تخویف(۱۴ سلنه) راځي. د راپور موندنې په هغو کې شمیر مرکو ولاړې دي چې د ۲۰۱۴ کال د اګست څخه د ۲۰۱۵ کال تر فبروري پورې د ښځو او نجونو سره تر سره شوي ، دغه مرکې د کورنیو د غړو ، حکومتي چارواکو ، د قانون د انفاذ او قضایي چارواکو سره د افغانستان د ۳۴ ولایتونو څخه په ۱۸ ولایتونواو په ملي کچه په کابل کې تر سره شوي دي.

افغانستان د د ښځو پرواندې د هر ډول تبعیض د له منځه وړلو د کنوانسیون غړی دولت دی او دې په توګه ، ددې نړیوال قانون له مخې لاندې مکلفیتونه لریچې د دې لپاره اړین ګامونه واخلي چې پر ښځو د تاوتریخوالي مخنیوي وکړي دهغوي ساتنه وکړي او د هغه په اړه غبرګون وښیي که څه د عامو اویا دولتي کسانو له خوا ترسره شوی وي. د ۲۰۰۹ کال پر ښځو د تاوتریخوالی د منع قانون – چې په افغانستان کې د ښځو د تاوتریخوالی په وړاندې د محافظت یواځینۍ قانوني وسیله ده – پر ښځو او نجونو د تاوتریخوالي ۲۲ عملونه او زیانمنونکي دودیزې کړنې جرم ګڼي. د پنځو جدي تیریو پرته ، چې په کې جنسي تیري او اجباري بدلمني/فحاشي[6] شامل دي ، قانون شکایت کوونکو ته د دې اجازه ورکوي چې د قضایي جریان په هر پړاو کې چې وغواړي خپلې قضیې بیرته واخلي ، او په دې توګه د منځګړیتوب لپاره لار هواره کړي. دولت باید چې د پنیځو مهمو جدي جرمونولپاره قضایي جریان تعقیب کړي پرته له دې چې د ښځې له خوا شکایت درج کیږي او که بیرته اخیستل کیږي.

یوناما دا موندلې ده چې د حل او فصل شویو[7] قضیو ډیری یې چې د قضیې په نمونو کې دي (د ۸۰ څخه ۵۲) د منځګړیتوب د لارې (۶۵ سلنه) حل شوي دي. د حل شویو قضیو پنځه سلنه (د ۸۰ څخه څلور یې) د جزایي عدلي تعقیب د لارې تر قضاوت لاندې راغلي دي او د مرتکبینو پرخلاف په مجازاتو پای ته رسیدلي دي.

په راپور کې دا موندل شوې ده چې د څو لاملونو له کبله ښځې منځګړیتوب ته ترجیح ورکوي څو د دوی قضیو ته رسېدنه وشي چې په دغو عواملو کې د جزایي قضایي سیستم انکیرل شوې کمزوري چې نه شي کولای د دوي شکایتونه تر غور لاندې ونیسي شامله ده ، چې په دې کمزوریو کې د فساد ، د صلاحیت څخه ناوړه ګټه اخیستنه ، او د مسلکیتوب د نشتوالي تورونه هم شامل دي. په دغو موندنو کې دا هم جوته شوه چې ډیری شمیر ښځې د خپلو قضیو د پړاوونو د چټکتیا غوښتونکي دي او د دې دلیل دا دی چې هغوي د خپل جندر له امله زیات مکلفیتونه لري او هم مالي محدودیتونه – او داسې انګېرل شوې ده چې منځګړیتوب دلارې یې قضیې په زیاتې چټکۍ سره د حل او فصل امکان لري.

د یوناما موندنې همدارنګه په ډاګه کوي چې د مرکه شویو میرمنو څخه ډیری د دې پر ځای چې د مجازاتو د تحمیل غوښتنه وکړي ، له دې سره لیوالتیا ښکاره کړې چې په حقوقي لحاظ د خسارې د جبران ترلاسه کړي ، لکه طلاق ، په منصفانه توګه نفقه او هستوګنځی او له تاوتریخوالي څخه په فارغ چاپیریال کې اوسیدل. داسې ښکاري چې منځګړیتوب یو مناسب او په فرهنګي لحاظ د منلو وړ زمینه برابروي چې په دې توګه په دغه ډول موضوعاتو باندې خبرې وشي او ورته رسیدګي وشي. د کورنۍ پر نارینه غړو باندې دښځو اقتصادي وابستګي اکثره مهال د دې خنډ کیږي چې هغوي د جزایي اجرااتو په لټه کې شي ځکه چې د مجرم بندي کیدل کله چې هغه د کورنۍ غړی وي په مستقیم ډول د ښځې د مالي ملاتړ د پاي ته رسیدو لامل کیږي.

---

جایداد کې له شخصي تصرف څخه منع کول (۳۴ ماده)؛ د ښوونې ، کار او روغتیایي خدمتونو ته د لاس رسي له حق څخه ممانعت (۳۵ ماده)؛ اجباري کار(۳۶ ماده)؛ له یوې ښځې نه زیاتو سره واده پرته له دې چې د مدني قانون ۸۶ مادې احکام په پام کې ونیول شي (۳۷ ماده)؛ د قرابت نفی(۳۸ ماده).

[6] د ښځې پرعلیه د تاوتریخوالي د منع د قانون ۳۹(۱) (۲) ماده وګورئ. پنځه شدید جرمونه عبارت دي له جنسي تیري ، جبري بد لمني ، د مجنی علیها د هویت په ډاګه کول ، په اور سوځول او یا د کیمیاوي موادو کارول او ځان سوځونې یا ځان وژنې ته اړ باسل (د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون ۱۷-۲۱ مادې).

[7] په دې راپور کې د " حل او فصل شوو قضیو " اصطلاح په هغو مواردو کې کاروله شي چې په هغو کې د محکمې د پریکړې یا دنورو غیر قضایي میکانیزمونو د لارې د شخړې په اړه هوکړه تر لاسه شوې وي.

د ټولټال ۱۱۰ قضیو څخه ۳۰ یې په جزایي عدلي سیستیم کې ثبتې دي چې د دې لیکنې پر مهال معطل پاتې دي. لس قضیې د محکمې له خوا د قضایي اجرااتو دجریان لاندې راغلي دي او د پرښځو د تاوتریخوالی دمنع د قانون د لاندې په لسو کې یې د مجازاتو محکومیتونه اعلان شوي دي او په کې برائت نه دی ورکړل شوی. د لسو څخه شپږ محکومیتونه د استیناف د محکمې د پریکړو لپاره پاتې دي او څلور یې د محکمې د قضاوت د لارې (لکه چې پورته یې یادونه وشوه ) حل شوي دي. ژغورل شوو میرمنو د هغو مجازاتو او محکومیتونو له امله خپله خوښي او قناعت وښودله چې په کې اوږد مهاله زندان شامل دی ، په داسې حال کې چې په پینځو پیښو کې هغوی مجازات ډېر نرم وګڼل (جریمې او یا هم لنډ مهاله زندان).

د منځګړیتوب د لارې د عدالت لپاره غوښتنو ته زیاتره پر ښځو د تاوتریخوالی د منع د قانون د لارې د قانوني ادارتو [8] (۴۷ سلنه) او غیردولتي موسسو د لارې (۱۷ سلنه) ترسره شوي په داسې حال کې چې د حل د دودیزو میکانیزمونو د لارې[9] د منځګړیتوب په ۲۲ سلنه قضیو کې رسېدنه شوې ده. د منځګړیتوب د ګډو غونډو تجربه چې د چارواکو او هغو فعالانو له خوا چې د شخړو د حل په دودیزو میکانیزمونو (د بیلګې په توګه د پولیسو افسر او ملا)په کې دخیل دي په ۱۵ سلنه قضیو کې د دولتي او خصوصي سکټورونو ترمنځ پر ښځو د تاوتریخوالی د قضیو په حل کې نږدې اړیکي جوتوي.

د یوناما مشاهدې جوتوي چې منځګړیتوب د بیلابیلو فعالانو له خوا تر سره شوی دی چې د معیاري لارې او د نظارت د میکانیزمونو د نشتوالي په صورت کې یې د منځګړیتوب د لارې پریکړې کړي دي. یوناما همدارنګه مختلفې او پخپل سر څېړندونه او لارې ، د مستند کولو تجربې او د تعقیبولو خپل شوي میکانیزمونه مستند کړي دي چې د دې لامل شوي چې د ژغورل شوو ښځو حقونه په کمزورې توګه محافظت شي. په ځینو قضیو کې منځګړو خپل نقش داسې لوبولی دی چې د دواړو اړخونو د حقونو او وقار ، په تیره د ښځو د هغو درناوی وشي. مګر همیشه داسې نه دي شوي.

د بیلګې په توګه لږ تر لږه په شپږو قضیو کې د منځګړیتوب په غونډو کې د ښځو شکایت کوونکو د نه شاملولو سره د بشري حقونو لپاره اندیښنې راولاړې شوي دي ځکه چې د دې په پایله کې د تبعیض چلند رامنځته شوی چې په کې د قانون او په هغو قضایي اجرااتو کې چې ښځه متاثره کوي او د برابر ګډون په لړ کې د قانون په وړاندې د ښځې د برابرۍ د مساوي حقوقو درلودلو څخه ممانعت کوي ، شامل دي. یوناما همدارنګه لږ تر لږه له ۱۱ داسې قضیو سره مخامخ شوې ده چې په کې د دې پرځای چې جزایي قانوني اجراات وشي پر ښځو منځګړیتوب تحمیل شوی دی چې د منصفانه محاکمې د حق لپاره د هغوی د رضا حق ، د اغیزمنې خسارې د جبران حق او د منځګړیتوب په رضاکارانه توګه د قبلولو خصلت تر پوښتنې لاندې راولي. تر ټولو مهمه پایله چې دمنځګړیتوب د جریان د لارې تر لاسه کیږي هغه له متهم سره د ښځې د دې لپاره بیرته یوځای کیدل دي چې کورنۍ او یا هم ټولنیز تړاو وساتل شي.

یوناما په دې وتوانیدله چې د ۲۵ پریکړو د عملي کیدو جریان تعقیب کړي. لږ تر لږه په ۱۳ پریکړو کې مرتکبینو د هغه هوکړې درناوی نه درلود چې د منځګړیتوب د لارې تر سره شوی و. د تاوتریخوالي په بیرته رامنځته کیدو سره ښځو پریکړه وکړه چې د امن خونو یا پناه ځایونو ته بیرته ستنې شي ، او په جزایي قضایي سیستیم کې د خپلو شکایتونو قضیې شاملې کړي او یا هم د

[8] د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع په قانون کې مندرجې موسسې عبارت دي له- د ښځو د چارو ریاست ، د حقوقو ریاستونه ، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون ، د پولیسو یا څارنوالۍ ادارې.

[9] یوناما " د شخړو د حل او فصل د دودیزو میکانیزمونو " څخه هغه مهال استفاده کوي چې په هغو کې منځګړیتوب د داسې اشخاصو له خوا تر سره شوی وي چې د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون د مندرجو مراجعو په لړ لیک کې شامل نه وي. د افغانستان په ټولنیز چاپیریال کې دغه اشخاص د کورنۍ غړي ، د محل سپین ږیري ، جرګې ، د یني عالمان ، او با نفوذه شخصیتونه دي. که څه هم نا دولتي موسسې د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون له لارې لړ لیک شوي نه دي خو یوناما هغه د شخړو د حل او فصل د دودیزو میکانیزمونو څخه په یوه جلا کټګورۍ کې راوستي دي ځکه چې دغه ډول موسسې د خدمتونو د وړاندې کوونکو سازمانونو په توګه مسوولیت لري د دې پر ځای چې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي قضیو ته رسیدګي ولري.

طلاق اخیستنې دوسیې داخلې کړي. د منځګړیتوب وروسته ۱۲ موافقې عملي شوي دي. یوناما په دې اړتیا ټینګار کړی دی چې د هغو پریکړو د تعقیبولو او نافذولو کار تقویه شي چې په کې کمزوري لیدل شوې- څو په دې توګه مرتکبین تر زیات احتساب لاندې راشی او ژغورل شوو میرمنو ته مصوونیت برابر شي.

په راپور کې مشاهده شوې ده چې کله ښځو خپل شکایتونه درج کول نو په دې اړه یې ډیر کم واضح پوهاوی درلود چې آیا دوي غواړي خپلې دوسیې د جزایي تعقیب د سیستم د لارې او که د منځګړیتوب د لارې حل کړي. د ثبتولو چارواکو اکثره مهال د ښځې لومړنی مشاور وي او د دې لپاره یې لاره هواروي چې ښځه څه ډول کولای شي چې د خپل شکایت په لړ کې عدالت ته و رسیږي. خو د دې باوجود ژغورل شویو ښځو اکثره وخت دا منلې ده چې د محکمې په قضایي او د منځګړیتوب په جریان کې د ښځو موجودیت ورو ورو د هغوي په دې باندې باور زیاتوي چې دوي ته د تخصص په کچه په برابر وزن قایل دي او د دوسیې په افسر/منځګړي باندې چې د هغې قضیه پرمخ بیایي د دې پرته چې د هغوي جنډر په پام کې ونیسي اعتماد او ویسا کوي. په ډیری حالاتو کې د باصلاحیته نارینه حضور د د ې لپاره د مهمې مانع په توګه نه دی انګیرل شوی څو ښځې په ازادانه توګه بیان ورکړي او د ځورونو او سرغړونو راپور وړاندې کړي.

هغه ښځې چې د تاوتریخوالي څخه ژغورل شوي دي په تیره بیا د غیر دولتي موسسو له خوا د امن خونو دلارې چې اکثره مهال د ښځو لپاره دبې ځایه کېدنې په صورت کې مصوونیت برابروي د فزیکي ساتنې په لړ کې د ارزښت وړ بلل کیږي. هغو میرمنو چې مرکې ورسره شوي دي دا منلې ده چې په اوږد مهال کې دغه شان ترتیبات او کړنې محدودې دي او دوي په دې ټینګار کوي چې په مستقلانه ډول د مصوونې اوسېدنې لپاره د دوي اړتیاوې پوره شي. هغه  مهم رول چې پر ښځو وړاندې د تاوتریخوالی په مقابل کې د غیر دولتي موسسو له خوا د غبرګون ښوولو په برخه کې ترسره کیږي مستند شوی دی ، دا هغه غیردولتي موسسې دي چې د ۱۱۰ مرکه شوو میرمنو له جملې څخه د څلورمې برخې لپاره یې قانوني مشورې برابرې کړي دي. اکثره وخت نالوستې ښځې د غیر دولتي موسسو له خوا د نافذو قوانینو او قضایي جریان سره اشنا شوي دي او ډیری وخت د دې لپاره ځواکمنې شوي چې د معلوماتو په رڼا کې دخپلو قضیو د حل په لړ کې پریکړې وکړي.

د یوناما موندنې همدارنګه د قانوني چوکاټ د بیا کتنې اړتیا په ډاګه کوي- چې هغه زیاتره په مجازاتو متمرکز وي- په دې توګه د عدالت لپاره د ښځو د غوښتنو په لړ کې په ښه توګه غبرګون ورکوي. له همدې کبله هغه ښځې چې د تاوتریخوالي سره مخ دي د اغیزمنې مدني خسارې د جبران تقویه کول(د بیلګې په توګه د مخنیوي او محافظت احکام ، د هغو موضوعاتو ملاحظه چې د ماشومانو حراست/محجوزیت ، د نکاح د فسخ وروسته د نفقې حق او د دې حق چې د خسر په کور کې و اوسیږي تنظیموي)، د دې سره هغه تدابیر یوځای کول چې د ښځو اقتصادي ځواکمني او په ټولنه کې ادغام رامنځته کړي لازمي دي. د " زنا" او " د زنا قصد درلودل" د مجازاتو بیا کتنه همدارنګه اړینه ده ځکه چې د دغو جرمونو له امله د ښځو عدلي تعقیب د دې سبب ګرځي چې د دوي د ازادانه خوځښت حق ، او د دې حق محدود کړي چې د ناوړه ازدواج څخه ځان وژغوري.

د دې لپاره د حکومت هلې ځلې چې پر ښځو د تاوتریخوالي د منع د قانون د قانوني موسسو محلي حضور زیات کړای شي دغه موسسې باید تقویه او د هېواد په کچه ، د ولایتونو دښاري مرکزونو دباندې پراخې شي چې ورسره په زیاته پیمانه معلوماتي کمپاینونه یوځای وي. د دې اغیزې په پام کې نیولو سره چې دغه موسسې یې په هغو ښځو چې عدالت ته رسېدل غواړي لري ، یوناما په دې اړتیا ټینګار کوي چې باوري شي چې پر ښځو د تاوتریخوالي د منع د قانون په ټولو قانوني موسسو کې د مسلکي ښځو استخدام زیاتوالی باوری شوی دی او په منظمه توګه سړیو او ښځو ته  پر ښځو د تاوتریخوالي د له منځه وړلو د موضوعاتو په اړوند روزنې  ته دوام وکړیچې  اداري ظرفیت لوړ شي چې د تاوتریخوالی څخه د ژغورل شوو ښځو سره په مسلکیتوب ، وقار ، د

حساسیتونو په پام کې نیولو سره په درناوي چلند ترسره شی. د هغو موسسو چې د دې لپاره واک او دنده لري پر ښځو د تاوتریخوالي په اړه غبرګون وښي د جنډر له لحاظه حساسوالی باید تقویه شي څوپه دې توګه د دغه ډول موسسوپه اړه د عوامو اعتماد او ویسا زیاته شي ، او د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د پیښو راپور ورکول وهڅول شي.

## ۱.۱ سپارښتنې

یوناما د افغانستان دولت اونړیوالو همکارانو ته لاندې لنډ مهاله او اوږد مهاله سپارښتنې لریچې احتساب رامنځته کړي او د کورنیو او نړیوالو بشري حقونو د معیارونو سره سم د تاوتریخوالي په وړاندې د ښځو او نجونو په ساتنه کې ښه والی راولي.

**د افغانستان حکومت**

**لنډ مهاله سپارښتنې:**

- ددې باوري کول چې د تاوتریخوالي هغه عملونه پر ښځو د تاوتریخوالي د منع د قانون او نورو اړوندو قوانینو د لاندې جرم ګڼل شوي د قانون د انفاذ د ادارو له خوا په سمه توګه تحقیق او د عدلي تعقیب لاندې راشي.
- پر ښځو د تاوتریخوالی د منع د قانون د قانوني ټولو ادارتو لپاره الزامي هدایتونه صادرشي چې دا واضحه کړي چې کوم ډول قضیې باید په جزایي لحاظ د عدلي تعقیب لاندې ونیولې شي او د کومو په اړه کیدلای شي چې منځګړیتوب وشي.
- پر ښځو د تاوتریخوالي د منع د قانون د قانوني موسسو لپاره باید تفصیلي مقررات جوړ او پلي شي چې په کې څیړندود ، معیارونه ، شرایط ، لږ تر لږه وخت او د تعقیبولو میکانیزمونه تشریح شي چې پر ښځو د تاوتریخوالي د ثبت شوو پیښو په لړ کې منځګړیتوب تنظیموي. دغه تنظیمونې باید د منځګړیتوب وروسته د ځانګړو فعالانو هغه مسوولیتونه مشخص کړي چې د منځګړیتوب د حل د پریکړو وروسته یې لري چې دا باوري شي چې د حل او فصل پریکړې د تعقیبولو د الزامي راپورونو د لارې نافذې او عملي شي.
- د تنظیمولو یو چوکاټ باید جوړ شي چې په دې کې د حکومت له خوا د تصدیقولو پلان هم شامل وي چې د معتبرو او جواز لرونکو منځګړیتوب کوونکو ، د ټولو هغو موسسو د نظارت د میکانیزمونو لپاره وي چې منځګړیتوب تر سره کوي.
- د لوي څارنوالي د دفتر د ۲۰۲/۹۲ لارښود چې د "*دکوره دتېښتې*" یا "*د زنا د قصد*" په اړه دی د "*زنا*" اود "*زنا د قصد*" په اړه د قانوني برخې مسلکیانو ته په دې تفصیل د عدلي تعقیب لپاره د معیاري لازمو مدارکو په اړه لارښوونه برابره کړي څو دا باوري شي چې دغه قانوني احکام د دې لپاره نه دي کارول شوي څو د تاوتریخوالی سره د مخامخ شویو ښځو لپاره د شکایت د کولو په لړ کې محدودیت وضع کړي.
- پر ښځو د تاوتریخوالی د منع د قانون[10] د ولایتي کمیسیونونو د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د عملونو په وړاندې د غبرګونونو تقویه چې په کې د مدني ټولنې سازمانونه ، د امن د خونو مدیران او نړیوال همکاران را وبلل شي څو د کتونکو په توګه په میاشتنیو غونډو کې ګډون وکړي ، د مشخصو موضوعاتوپه اړه راپور ورکړي او د کمیسیونونو د کار ملاتړ ولري. په دغه ډول هلو ځلو کې باید د ارجاع کولو د میکانیزمونو انفاذ شامل وي څو د اړوندو اداراتو له خوا د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د منع د قانون د ۱۶ مادې پر بنسټ د خدماتو برابرول تسهیل کړای شي.

[10] د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون او د ښځو چارو وزیر د ۵۱۴-۵۴۶ (نېټه ۱۳۸۸/۰۴/۲۹) ګڼې حکم له مخې والیان ، د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع ولایتي کمیسیونونه د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون پر بنسټ د دې دنده او واک لري څو ټولې هلې ځلې د دې لپاره همغږې کړي چې د دوي په سیمو کې د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالي ته رسیدګي ولري.

- د هېواد په کچه د عامه کمپاینونو پر لاره اچول چې موخه یې د ښځو د حقونو او جنډر د برابرۍ په اړه د پوهاوي لوړول دي. په مشخصه توګه د تاوتریخوالي لاندې راغلو ښځو د مدافعې او جبران په اړه د هغوي د پوهاوي د کچې لوړول.

**اوږد مهاله سپارښتنې:**

- د جزایي قضایي سیستم د ظرفیت تقویه کول چې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالی د مرتکبینو لپاره احتساب باوري شي او داچې ښځې د تاوتریخوالی څخه وژغورلې شي.
- دا باوري کړای شي چې د جزا د قانون روان اصلاحات داسې احکام ولري چې د ښځو پر وړاندې د ترسره شوو جرمونو په اړوند د بشري حقونو د هغو نړیوالو میثاقونو سره چې افغانستان تصویب کړي دي او لکه چې د افغانستان د اساسي قانون په ۷ ماده کې یې غوښتنه شوې ده په تطابق او سمون کې وي.
- د مدني جبران چې د تاوتریخوالی نه تیرې شویو ښځو لپاره شتون لري چې په کې د مخنیوي او محافظت احکام شامل دي ، پراخول.
- د قانوني چوکاټ بیا کتنه څو په دې توګه اغیزمنه قانوني مدافعه او جبران کول معرفي شي چې د هغو ښځو لپاره چې د تاوتریخوالی څخه ژغول شوي د ماشومانو د ساتنې ، د نکاح د فسخې وروسته د نفقې او په نکاحي کور کې د اوسېدا دحق اړوندو موضوعاتو تنظیم په قانوني ډول تضمین شي.
- د هغه قانون بیا کتنه او جوړول چې د هغو زیانونو چې افغان میرمنې ورسره مخ دي د اساسي لاملونو سره مجادله وشي چې په هغو کې هرډول تبعیضي احکام چې د مالکیت د اړوندو موضوعاتو په لړ کې د ښځو او نارینه وو لپاره د برابرو حقونوپه لاره کې خنډ ګرځي له منځه ولاړ شي.
- د ارقامو او د ډیټا د سیستم د مدیریت پر بنسټ چې پر ښځو = د تاوتریخوالی د منع د قانون د پلي کولو لپاره د افغانستان د حکومت له خوا د اوسنیو راپورونو په لړ کې کارول کیږي د هراړخیز کمپیوټري سیستم جوړول او په کار اچول چې په مرکزي کچه د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالی پیښې مستندې کړي ، چې په دې کې د نقض د کټګوریو لپاره واحد میتودونه شامل دي ، او داچې د قانون د انفاذولو او اړوندو اداراتو له خوا چې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د پیښو په برخه کې غبرګون جوتوي د ارقامو راټولولو ته استقامت ورکړل شي او هغه اجباري وي.
- پر ښځو د تاوتریخوالي د منع د قانون په ټولو اداراتو کې د افغان ملي پولیسو ، دلویې څارنوالي دفتر او محاکمو په شمول د مسلکي ښځو د استخدام او روزنې زیاتول چې زیاتې میرمنې دې ته وهڅولې شي چې د تاوتریخوالي د پیښو په اړه ښځینه کارمندانو ته راپور ورکړي.
- پر ښځو د تاوتریخوالي د منع د قانون د هغو اداراتو چې منځګړیتوب تر سره کوي د ظرفیت لوړول چې د منځګړتیا کوونکو- نارینه او ښځې چې روزل شوي او تصدیق شوي وي یو پراخه لړلیک جوړ کړي.
- د بیا رغونې او پخپل ځان د بساینې او اتکاء د هغو پروګرامونو پلي کول چې هغه ښځې یې موخه دي چې د تاوتریخوالي لاندې راغلي دي — د هغو ښځو په شمول چې په امن خونو کې پناه ورکړل شوې — څو په دې توګه د هغوی د اقتصادي ځواکمنتیا او بیرته په ټولنه کې د شمولیت ملاتړ وشي.

- پر ښځو د تاوتريخوالي د منع د قانون د ۶ مادې په بنسټ د تاوتريخوالي څخه د ژغورونکو لپاره د وړيا قانوني مشورو او په محکمه کې د استازيتوب موجوديت او ورته د رسېدنې د اسانتياوو پراخول.

**نړيوالو مرسته کوونکو ته:**

- د افغانستان په جزايي عدلي سيستم کې د اړينو اصلاحاتوپه منظور د تخنيکي تخصص او مالي سرچينو د برابرولو تداوم څو په دې توګه د تاوتريخوالي څخه د ښځو ژغورل باوري شي او د نړيوالو او ملي قوانينو او د بشري حقونو د معيارونو سره يې تړاو او سمون راشي.
- د معياري مقرراتو د تصويبولو لپاره چې د تعقيبولو د ميکانيزمونو د ميتودولوژۍ ، معيار ، لړ تر لږه شرايط او غوښتنې په ټوليز ډول طرح کړي چې پر ښځو د تاوتريخوالی د ثبت شوو پېښومنځګړيتوب تنظيم کړي او د هدفمند تمويل د لارې يې د پلي کولو ملاتړ و شي.

## ۲. ۲۰۱۴-۲۰۱۵ کلونو شرايط

د ۲۰۱۴ کال په سپتمبر کې د ملي يو والي د حکومت له جوړېدو سره چې د ولسمشر اشرف غني او اجرائيه رييس عبد الله له خوا يې مشري کيږي ، دا تمه را پيدا شوه چې د کمپاين د وخت له ژمنو سره سم به د ښځو حقونه پرمختګ وکړي چې په حکومت کې د ښځو کافي اندازه ونډه يقيني شي او پر ښځو د تاوتريخوالی د منع قانون په بشپړ ډول عملي شي. په ځانګړي ډول دوي دواړو ژمنې کړې چې ناوړه دودونه به چې پر ښځو  دتاوتريخوالی لامل کيږي او د دې مخنيوی کوي چې ښځې له خپلو حقونو څخه برخمنې شي ، له منځه وړي. په ډيرو وختونو کې ولسمشر غني ژمنه کړې چې د ښځو په وړاندې د ستونزو د حل کولو په غرض به جدي ګامونه پورته کوي. د ۲۰۱۵ کال د مارچ په ۲۱ مه ولسمشر غني او اجرائيه رييس عبد الله د ۱۶ وزارتونو لپاره نوماندان معرفي کړل چې څلور يې ښځې وې. د دې وزيرانو ګومارل د ولسي جرګې په منظوري پورې تړلي دي.[11] (د وزارت د مقام لرونکی به د پارلمان له منظورې وروسته اعلانيږي.) له ټاکنو څخه د مخه ژمنې چې د ښځو لپاره د مشخصو فرصتونو د برابرولو په ذريعه د ښځو حقونه پرمختګ ورکړي او په لوړه کچه په سياسي اجنډا اغيزه وکړي ، لا تر اوسه نه دي عملي شوي.

پر ښځو  تاوتريخوالی او ناوړه دودونه لا په همغه ډول د جدي انديښنو په څېر پاتې دي. په تېره بيا ، دوو وروستيو پېښو په ټول هيواد او نړۍ کې د خلکو غصه او نيوکې راپورته کړې. له دغو پېښو يوه د ۲۰۱۴ په اکتوبر کې د کابل ولايت د پغمان په ولسوالي کې د څلورو تنو ښځو تښتول او بيا په هغوي جنسي تيرى کول او بله پېښه په کابل کې د ۲۰۱۵ په مارچ کې د شاه دو شمشيره زيارت ته څېرمه د خلکو د يوې ډلې له خوا په دې تور د يوې ځوانې ښځې وژل و چې ګواکې قرآن کريم يې سوځولی. دواړه پېښې د دې لامل شوې چې خلکو  پر ښځو د تاوتريخوالي په ضد اعتراض وکړ او د دې غوښتنه يې وکړه چې مجرمين د ې مجازات او عدالت دې پلی شي. د پغمان په پېښه کې پر ښځو د تاوتريخوالی د منع له قانون څخه چې د جنسي تيري قضيې څيړي د اوو تنو تورنو کسانو په صورت دعوا کې يادونه نه وه شوې- دا پېښه څرګندوي چې د پر ښځو د تاوتريخوالی د منع له قانون څخه محدوده اندازه ګټه پورته کيږي.

دغو دواړو پېښو په عام ژوند کې د ښځو د خونديتوب په اړه پراخې انديښنې راپيدا کړې. د ولسمشر غني په نوښت په اوس مهال کې د يوې قاعدې په مسوده باندې کار کيږي چې په عام ژوند کې د ښځو ځورول منع کوي.

[11] د افغانستان د ملي شورا ، ولسي جرګه.

په داسې حال کې چې نا امني ، کلتوري باورونه او د ښځینه قربانیانو دغه وېره چې د ټولنې له خوا له بدنامي او غچ اخیستنې سره مخ کیدای شي په پرلپسې ډول د دې لپاره خنډ ګرځي چې پر ښځو =د تاوتریخوالي او په دې اړه د عمومي تمایلاتو د تحلیل په تړاو راپورونه ورکړل شي ، د حکومت په هڅو کې ځینې پرمختګونه لیدل کیږي چې په ټول هیواد کې پر ښځو د تاوتریخوالي په اړه یې په منظمه توګه راپورونه راغونډ کړي اوهغه یې تعقیب کړي دي.

د ۲۰۱۴ کال په مارچ کې ، حکومت په افغانستان کې پر ښځو د تاوتریخوالي په اړه خپل لومړی راپور خپور کړ.[۱۲] د هغو معلوماتو پر بنسټ چې د حکومت له اړونده وزارتونو څخه راغونډ شوي دي ، راپور له ۳۴ ولایتونو څخه په ۳۲ کې پر ښځو د تاوتریخوالي ۴۵۰۵ پېښې ثبتې کړې[۱۳] چې د ۲۰۱۲ کال له مارچ څخه د ۲۰۱۳ کال تر مارچ پورې رامنځ ته شوي دي (د افغان کلیزې ۱۳۹۱ کال). له دغو قضیو څخه ۳۳۹۶ داسې قضیې وې چې پر ښځو د تاوتریخوالی د منع د قانون له مخې تر تعقیب لاندې نیول کیدای شوې. نورې پاتې قضیې تر جنایي او مدني قانون لاندې راځي.

دغه راز راپور په رسمی ډول د منځګړیتوب کارول په پراخه کچه (۴۱ سلنه) مني چې پر ښځو د تاوتریخوالي قضیې یې حل کړې دي او ۱۱،۵ سلنه قضیې د جنایي عدلي پروسې په ذریعه حل شوي چې په پایله کې مجرمین مجازات شوي یا قضیې له جرم څخه په برائت ورکولو ختمې شوې. په راپور کې حکومت ژمنه کړې ده چې پر ښځو د تاوتریخوالي د مخنیوي او د هغو د ځواب ویلو په منظور به په پراخه کچه قانوني ، اداراتي او د پالیسي اړونده اصلاحات پیل کوي. په دې اصلاحاتو کې د قضیو د تعقیب او حل لپاره د یوه جامع ډیټابیس جوړول ، په ملي او ولایتي کچه پر ښځو د تاوتریخوالی د منع د قانون د کمیسیونونو تقویه کول او له دې قانون څخه د پراخې خبرتیا نوښتونه شامل دي.

حکومت د ۲۰۱۴ کال د نومبر په ۲۵[۱۴] مه د دې مسلې په اړه د خپل دویم راپور موندنې په ډاګه کړې چې د ۲۰۱۳ له مارچ څخه د ۲۰۱۴ تر همدې میاشتې پورې موده رانغاړي (د افغان کلیزې ۱۳۹۲ کال). په دې راپور کې په ټولیز ډول ۵۴۰۶ قضیې ثبتې شوي دي (۳۷۱۵ قضیې پر ښځو د تاوتریخوالی د منع د قانون لاندې) چې د قضیو په ثبت کې ۲۰ سلنه زیاتوالي څرګندوي. په دې موندنو کې د منځګړیتوب زیاته کارونه چې لا پخوا موجود و تایید شوې ده. د حکومت دوو راپورونو یو مثبت تمایل څرګند کړی چې زیاتې ښځو بر ښځو د تاوتریخوالی د منع د قانون ادارو ته مراجعه کوي او د دې یادونه کوي چې زیات شمیر قضیې " مخته بوتللی شي."

په ۲۰۱۴ کې پر ښځو د تاوتریخوالي د مسلې د حل په لار کې په نورو هڅو کې پر ښځو د تاوتریخوالی د منع د قانون د تعقیب د مخصوصو واحدونو تاسیسول و چې په ۱۸ ولایتونو کې د لویې څارنوالي په چوکاټ جوړ شوي- د ۲۰۱۳ کال په پرتله چې ۸ واحدونه فعال و ، په دې برخه کې دغه پرمختګ د پام وړ و. که څه هم د اختصاصي واحدونو فعالیت په ټول هیواد کې یو شان ته نه دی ، د یوناما څارنې په ډاګه کړې چې دغو واحدونو ښځې هڅولې چې د تاوتریخوالي قضیې ثبتې کړي.[۱۵]

پر ښځو د تاوتریخوالي د هغه د علتونو او پایلو په اړه ځانګړی راپورتر ، رشیده منجو له افغانستان څخه د ۲۰۱۴ د نومبر له ۵ تر ۱۲مه پورې د حکومت په بلنه کتنه وکړه. راپورتر د حکومت له لوړپوړو چارواکو ، د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون له مشرې ، د مدني ټولنې له استازو او په کابل ، هرات او جلال آباد کې له ډیپلوماتیکو استازو او دارنګه د تاوتریخوالي

[۱۲] پر دغې ویب پاڼې د لاس رسي وړ دی: http://mowa.gov.af/Content/files/EVAW%20Law%20Report_Final_English_17%20%20March%202014.pdf.

[۱۳] د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي هره پېښه چې د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون له مخې هرې صلاحیت لرونکې ادارې ته راپور ورکړل شوی وي ، څو هغې ته رسیدګي وشي داسې قضیې په حکومتي راپورونو کې د ثبت شوې قضیې په حیث پیژندل کیږي.

[۱۴] د موندنو کاپی ګانې په عام ډول نه دي توزیع شوې.

[۱۵] د یوناما دغه راپور وګورئ: په مخ کې پرته لار: په افغانستان کې د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون د تطبیق په اړه نوې معلومات (ډسمبر ۲۰۱۳).

له قربانیانو او مرستې برابرونکو سره ولیدل. که څه هم د قانوني او موسساتي پرمختګونو یادونه وشوه لکه د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون ایجادول ، په ملي کچه د ښځو د وزارت او په ولایتي کچه د ښځو د چارو د ریاستونو ایجادول او پر ښځو د تاوتریخوالی د منع د قانون نافذیدل ، ځانګړي راپورتر اندېښنه ښرګنده کړه چې د افغان میرمنو په باور رسمي قضایي سیستم د لاس رسي وړ او ځواب ویونکی نه دی ، په فساد اخته او د باور وړ نه دی ، په تېره بیا د داسې مسلو په اړه چې د ښځو له حقونو سره تړاو ولري- او له دې امله منځګړیتوب غوره ګڼي.[١٦] تمه کیږي چې ځانګړي راپورتر به خپل وروستی راپور د بشري حقونو شورا ته د ۲۰۱۵ په جون کې وړاندې کړي.

پر ښځو د تاوتریخوالی د منع قانون لا اوس هم د ولسشمر د فرمان په ذریعه نافذ دی. په ۲۰۱۳ کې په ملي شورا کې یوه بې نتیجې هڅه وشوه چې دغه قانون تصویب کړي ، د ۲۰۱۵ کال تر اپریل پورې نوموړی قانون بیا ملي شورا ته نه دی استول شوی. څرنګه چې حکومت په اوس مهال کې جزایي قانون[١٧] تر بیا کتنې لاندې نیولی ، داسې وړاندیزونه شوي چې پر ښځو د تاوتریخوالی د منع د قانون جنایي احکام په نوي جزایي قانون کې ځای کړي.

د ۲۰۱۴په مې کې د جزايي اجرااتو قانون او د پخواني ولسمشر قانوني فرمان چې د قانون ۲۶ ماده[١٨] تعدیلوي چاپ شوې او د ۲۰۱۴ کال د جون په پینځمه نافذ شو. دغه تعدیل د ښځو لپاره د کورني تاوتریخوالي په قضیو کې عدالت ته د لاس رسي په لار کې یو مهم پرمختګ دی ، ځکه چې پخوانۍ ۲۶ مه ماده تعدیل شوه ، کومه چې د تورن شخص له خپلوانو څخه پوښتنې منع کولې.

د ۲۰۱۴ کال په اوږدو کې ، د کورنیو چارو وزارت د پالیسیو او لارښودنو په طرح کولو کې پرمختګ کړی چې هدف یې د افغان ملي پولیسو په چوکاټ کې د ښځینه پولیسو په ساتنه او له هغو سره په ښه چلند کې پرمختګ و. دغه هڅې د هغو جدي اندېښنو په ځواب کې وشوې چې د څو تنو برخه والو له خوا- لکه یوناما- د نارینه پولیسو له پلوه پر ښځینه پولیسو د تاوتریخوالي د لوړې کچې ، جنسي ځورونې او له صلاحیت څخه د ناوړه ګټې اخیستنې په تړاو رابرسیره شوي وې. د ۲۰۱۴ په جنوري کې ، د کورنیو چارو وزیر ، محمد عمر داودزي "د پولیسو په ځواکونو کې د ښځو د ګډون ستراتیژي" منظوره کړه چې هدف یې د افغان ملي پولیسو په لیکو کې د ښځو لپاره د یوه خوندي چاپیریال رامنځ ته کول و. د ۲۰۱۴ په اګست کې د عمل پلان تصویب شو چې د تطبیق لپاره یې میکانیزمونه طرح شول چې د افغان ملي پولیسو په چوکاټ کې د ښځو مسلکیتوب ، ګډون او ساتنه پیاوړي شي. تر دې دمه ، د عمل د پلان تطبیق ډیر سوکه دی.

---

[١٦] په دې پته یې لوستلی شئ: http://www.ohchr.org/EN/NewsEvents/Pages/DisplayNews.aspx?NewsID=15284&LangID=E#sthash.xbuIe8Be.dpuf

[١٧] د ولسمشر د ۷۸۹/ ۸۴۷ (۲۰۱۰ جون ۱) د منظوري په تعقیب.

[١٨] ۲۶ ماده: (۱) لاندنی شخص کولای شي چې له شاهدي ورکولو څخه انکار وکړي: یو شخص چې مسوولیت یې ، لکه څنګه چې په دې قانون کې توضیح شوي ښایي د شاهدۍ ورکولو په ذریعه د پټو رازونو د افشا کولو له امله نقض شي ، لکه قانوني سلا کار ، طبیب ، اروا پوه ، کارپوهان او نور ورته مسلکي کسان د تورن شخص نیکونه او اولادونه تر دوو پوړیو او میړه او ښځه ، حتی که د ازدواج اړیکي شلیدلي هم وي. یو خپل چې د اړوند جرم په پایله کې قرباني شوی وي او/یا د دې جرم په اړه یې معلومات ورکړي وي یا یې شکایت کړی وي ، له دې حکم څخه مستثنی دی.

(۲) له قضایي افسرانو ، څارنوالانو او محاکمو څخه غوښتنه کیږي چې هر شخص چې د دې مادې په (۱) فقره کې یې یادونه شوې له خپلو حقوقو څخه چې کولای شي له شاهدي ورکولو څخه انکار وکړي ، خبر کړي.

(۳) که چیرې محکمه فیصله وکړي چې د دې مادې په لومړۍ برخی ، لومړی پراګراف کې د شامل شخص شاهدي د قضیې د مناسبې څیړنې لپاره ضروري ده چې د تورن شخص ګناه یا بې ګناهي ثابته کړي یا که چیرې عامه ګټې د محرمیت تر ساتلو زیاتې ارزښتناکې وګڼل شي ، بیا محکمه کولای شي چې د شاهد موثقه بیانیه په یوه شخصي غونډه کې و اوري او که ضروري وي بې له دې چې د دعوی یوه خوا هم حاضره وي.

(۴) د لاندیو اشخاصو شاهدي مجاز نه ده: د دفاع وکیل څوک چې په قضیه کې له تورن شخص څخه دفاع کوي. شخص چې فکر کیږي په جرم کې شریک دی او په شاهدي کې یې د خپل ځان په ضد د تورونو ردول شامل وي ؛ شخص چې قانوني صلاحیت (اهلیت) و نه لري.

## ۳. میتودولوژي

د راپور د موندنو هدف دا وو چې د یوناما هغه لومړنۍ هڅې پیاوړي کړي چې په ټول هیواد کې پر ښځو او نجونو د تاوتریخوالي قضیې په سیستماتیک ډول وڅاري او مستندې کړي ، چې په ۲۰۱۰[۱۹] کې پیل شوي وې. په دې هڅو کې په قربانیانو متمرکز هغه ژور او کیفي تحلیل هم شامل و چې له مخې یې د تاوتریخوالي په پېښو کې د ښځو لپاره عدالت ته د لاس رسي په لار کې هڅونکې یا مخنیونکي لاملونه څرګند شوي ، چې د محکمې د قضاوت یا د منځګړیتوب په ذریعه ایجاد شوي وي.

راپور د هغو معلوماتو پر بنسټ ولاړ دی چې د ۲۰۱۴ د اګست څخه د ۲۰۱۵ تر فبروري پورې د افغانستان له ۳۴ ولایتونو له څخه په ۱۸ ولایتونو کې را ټول شوي دي: بدخشان ، بغلان ، بامیان ، بلخ ، فراه ، فاریاب ، هرات ، جوزجان ، کابل ، کاپیسا ، خوست ، کنړ ، کندز ، لغمان ، ننګرهار ، پکتیا ، سمنګان او تخار.

څېړنه د عدالت په لټون کې د ښځو په شخصي تجربو متمرکزه وه. یوناما په دې باور ده چې دا تګلار د ښځو په تجربو باندې له اتکا سره د ښځو اواز او اندېښنو ته نور انعکاس ورکوي او په دې ډول په پالیسي کې د سمون او د مدافعې په ډګر کې په هڅو باندې اغیز کوي چې د ښځو لپاره عدالت ته لاس رسي ښه کوي.

اوسنی تحلیل له ۳۶ ښځو او ۱۴ نجونو سره په مرکو ولاړ دی چې خپلې تجربې یې مستندې کړې دي او په ورته وخت کې پر ښځو د تاوتریخوالی د منع د قانون سره سم له ټولو قضایي او غیر قضایي پروسو څخه تېرې (ثبتونه ، تحقیقات ، عدلي تعقیب او قضاوت). قضیې د ښځو د شکایتونو د ثبتونې د موسساتو له خوا له ارجاع کولو څخه وروسته انتخاب شوي یا د تاوتریخوالی د قربانیانو له خوا چې په مستقیم ډول یې له یوناما سره اړیکې نیولي ثبتې شوي دي ، د کم عمره کسانو په قضیو کې ټولې مرکې د ښځو او د هغو د وصیانو له خبرولو وروسته ترسره شوي دي.

په افغانستان کې پر ښځو د تاوتریخوالی د منع قانون د تطبیق د څارنې او ثبتونې له هڅو سره سم چې د یوناما له خوا اوس او په تیر وخت کې ترسره شوې ، هغه قضیې چې په دې راپور کې تحلیل شوې دي بېلا بېلې له تاوتریخوالي ډکې کړنې شاملې دي چې پر ښځو د تاوتریخوالی د منع د قانون له مخې جرم ګڼل کیږي.[۲۰] د "جنسي تیري" او "د معیوبیت یا ژوبلې لامل کیدل"[۲۱] عملونه که څه هم پر ښځو د تاوتریخوالی د منع د قانون له مخې جرم ګڼل کیږي ، د جزا د قانون د احکامو له مخې د جزا وړ ګڼل کیږي او له همدې کبله د دې راپور په څېړنه کې شامل نه دی.

معلومات له ښځو سره د مخامخ مرکو یا تیلفوني مرکو په ذریعه راغونډ شوي. دغه راز د کورنیو له غړو ، حکومتي ، قضایي او د قانون پلي کوونکو چارواکو او منځګړیو سره په منتخبو ولایتونو او په ملي کچه په کابل کې سلا مشورې شوې دي. په دې سربیره ، یوناما ۲۲ د منځګړیتوب غونډې په مستقیم ډول مشاهده کړې او ۱۰۴ د منځګړیتوب غونډې یې له نږدې څخه لیدلې چې پر ښځو د تاوتریخوالي د منع د قانون دادارو یا د شخړو د حل د نورو دودیزو میکانیزمونو له خوا جوړې شوې وې. په دې ذریعه یوناما وکولای شو چې د قانوني اقداماتو په تړاو ، لکه په پروسه کې د ښځو ګډون ، او د منځګړیتوب د پایلو په اړه ژور معلومات تر لاسه کړي.

---

[۱۹] لومړی شمیره لمن لیک وګورئ.
[۲۰] پنځم شمیره لمن لیک وګورئ.
[۲۱] د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون ۱۷ او ۲۲ مادې.

يوناما په خپلو ټولو مواردو کې د مداخلې نه کول ، بې طرفي او د محرميت د ساتلو اصولو  به بام کې نيولي. په ځانګړي ډول ، د يوناما ټيمونو چې له تاوتريخوالي څخه اغيزمن شويو ښځو سره د مرکو په وخت کې حساسيت په پام کې نيولی ، داسې رهبري کيدل چې د ذهني ټکانونو د بيا ژوندي کيدو څخه د مخنيوي لپاره د "ضرر نه رسولو" اصل تعقيب کړي. له دې امله ، د مرکو په تنظيمولو او غوره کولو کې د ښځو اړتياوو ته ډيره پاملرنه شوې ده. له نجونو سره چې د تاوتريخوالي څخه ژغورلې شوي په هغه وخت کې مرکې شوي چې د هغوی وصی ، د کورنۍ غړی يا د دوي قانوني وکيلان حاضر وو. د دې لپاره چې د ښځينه ژغورل شويو په تجربو باندې ښه وپوهيږي ، داسې پوښتنې مطرح شوي چې ځوابونه يې معلوم نه وي ، څو ښځې وهڅول شي چې عدالت ته د لاس رسي په هڅو کې خپلې تجربې په ازاد ډول بيان کړي.

## ۴. له ښځو سره د تاوتريخوالي پر ضد د مبارزې قانوني چوکاټ

مهمه ده چې ښکاره شي چې له ښځو سره د تاوتريخوالي د قضيو د حل لپاره د منځګړيتوب کارونه په نړيوالو مباحثو کې د شخړو باعث ګرځيدلي. ډيرې اندېښنې د نقض کوونکو په منځ کې د ځواک د نابرابري او د پروسې په جامع والي ، اغيزمنتوب او انصاف باندې متمرکزې دي.

*د بشري حقونو نړيوال قانون او اصول*

افغانستان د نړيوال قانون له مخې مسووليت لري ، چې پر ښځو د تاوتريخوالي په مقابل کې مبارزه وکړي ، ښځې له تاوتريخوالي وژغوري او د هغه مخنيوی وکړي ، که څه د شخص يا په عام ډول د مجرمينو له خوا اجرا کيږي. دغه مسووليتونه (د نورو قوانينو په ګډون) د ښځو په ضد د تبعيض د ټولو شکلونو د له منځه وړلو کنوانسيون شته او افغانستان بې له کومې ملاحظې څخه پرته هغه تصويب کړی دی.

که څه هم منځګړيتوب د کومو نړيوالو قانوني نورمونو په ذريعه نه اداره کيږي چې اجرا کول يې حتمي وي ، خو په ضمني ډول د عمومي اصولو يوه ټولګه شته ، که څه هم پر ښځو له تاوتريخوالي سره په خاص ډول تړاو نه لري ، چې کولای شي په دې برخه کې فعالين د هغو تجربو پر بنسټ رهبري کړي چې په ملي او نړيواله کچه کار کوي.[٢٢] په دې اصولو کې تياری ، رضايت ښکاره کول ، بې پلوي ، جامع والی ، قانوني چوکاټ ، يو والی ، د منځګړيتوب د هڅو همغږي او بشپړتيا او د موافقې کيفيت شامليږي.

د ځواک د ناوړه کارونې[٢٣] د جرم له قربانيانو سره د عدالت د اساسي اصولو اعلاميه چې د ملګرو ملتونو د عمومي اسمبلې له خوا تصويب شوې ، منې چې غير رسمي ميکانيزمونه د منځګړيتوب په ګډون کيدای شي "که مناسبه وي"[٢٤] د شخړو د حل لپاره وکارول شي څو د پخلاينې او قربانيانو ته د جبران ورکولو لپاره اسانتياوې رامنځ ته کړي. په اعلاميه کې د ځای شويو اصولو پر بنسټ ، غير قضايي ميکانيزمونه بايد په خپله خوښه وي او د پروسې او پايلو له پلوه د ګډون ، برابري او عدم تبعيض په اصولو تکيه ولري. دغه راز اعلاميه د اداري ميکانيزمونو د تقويې او تاسيس غوښتنه کوي څو قربانيان وکولای شي د رسمي او غير رسمی طرز العملونو له لارې چې مناسب ، ارزانه او د لاس رسي وړ وي ، جبران تر لاسه کړي.

[٢٢] د منځګړيتوب په اړه د زيات شمير ليکنو په منځ کې وګورئ: د اغيزناک منځګړيتوب په اړه د ملګرو ملتونو لارښود (سپتمبر ٢٠١٢).
http://www.un.org/wcm/webdav/site/undpa/shared/undpa/pdf/UN%20Guidance%20for%20Effective%20Mediation.pdf.

[٢٣] د عمومي اسمبلې په ۳۴/ ۴۰ پريکړه ليک کې د ۱۹۸۵ کال د نومبر په ۲۹ تصويب شو. په دې پته د لاس رسي وړ دی:
http://www.un.org/documents/ga/res/40/a40r034.htm.

[٢٤] له ځواک څخه د ناوړه ګټې اخيستې او جرم د قربانيانو لپاره د عدالت د اساسي اصولو اعلاميه په اومه برخه کې.

پر ښځو د تاوتريخوالي د منع قانون په ۲۰۰۹ کې د ولسمشر د فرمان په ذريعه نافذ شو او په افغانستان کې د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي د مسلو د اداره کولو په برخه کې د مهم قانون په څېر پاتې دی. دغه قانون د تاوتريخوالي او ناوړه دودونوو نه ۲۲ يې جرم ګڼي[۲۵] او د حکومت لپاره خاص مسووليتونه بيانوي چې له تاوتريخوالي څخه دمتاثره شويو ښځو په ګټه او د دوي د ساتنې او مرستې لپاره تدابير ونيسي. د يوه اختصاصي قانون په حيثيت ، پر ښځو د تاوتريخوالی د منع قانون د داسې عملونو لپاره لکه جنسي تيری او ژوبله او معيوبيت د جزا قانون ته مراجعه کوي. د جزا د قانون نورې برخې د تاوتريخوالي ځينې نور عملونه هم جرم ګڼي چې د مجرمينو له خوا پر ښځو کيږي او پر ښځو د تاوتريخوالی د منع په قانون کې نه دي ځای شوي ، لکه وژنې او تښتونې.

پر ښځو د تاوتريخوالی د منع د قانون د ۱۳ مادې (۱) (۲) سره سم ، يوه ښځه کولای شي خپل شکايت د قانوني مراحلو په هره مرحله کې بيرته واخلي ، د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالی د ۵ عملونو په استثنا چې دولت بايد د هغو په تړاو اقدام وکړي. په داسې حالاتو کې د ښځې له خوا د شکايت نه کول او يا د دې له خوا د شکايت بيرته اخيستل نقش نه لري. په دغو عملونو کې د جنسي تيري ، په جبري ډول د بدلمني ، د يوه قرباني د هويت د افشا کولو ، سوځولو يا د کيمياوي مواد د کارونې او په جبري ډول د ځان سوځونې يا وژنې جرمونه شامليږي.[۲۶]

نور جرمونه چې پر ښځو د تاوتريخوالی د منع د قانون له ۲۲- ۳۸ مادو کې تصريح شوي ، کيدای شي په اړه يې په هغه صورت کې د احتمالي عدلي تعقيب لپاره تحقيقات وشي که قرباني يا د کورنۍ يو غړی شکايت ثبت کړي. په عمل کې ، د شکايت بيرته اخيستل په معمول ډول له هغه وروسته شوي چې د حکومتي چارواکو يا د شخړو د حل د دويزو ميکانيزمونو له خوا منځګړيتوب وشي. که چيرې ، د منځګړيتوب په پايله کې يوې پريکړې ته ورسيږي او د جرم په اړه له هغې مخکې حکم صادر شوی وی ، دغه حکم د اجرا وړ نه ګڼل کيږي.[۲۷]

که څه هم په افغان قوانينو کې داسې صريح حکم نشته چې منځګړيتوب تعريف کړي او په جنايي قضيو کې د هغه کارونه منع يا مجاز وګڼي ، پر ښځو د تاوتريخوالی د منع د قانون ۳۹ مې او د اساسي قانون ۵۴ مې مادې[۲۸] چې د کورنۍ د موسسې او د کورنۍ د يو والي د ساتنې عمومي مسووليت احتوا کوي ، د چارواکو ، د شخړو د حل د دوديزو ميکانيزمونو او نورو منځګړو لپاره د منځګړيتوب قانوني اساس برابروي.

---

[۲۵] وګورئ د ښځې پر عليه د تاوتريخوالي د منع قانون ، د افغانستان اسلامي جمهوريت (اګست ۲۰۰۹): جنسي تيری ، جبري بدلمني ، اور ور اچول ، د کيمياوي يا نورو خطرناکو موادو استعمال ، د قرباني شخص د هويت په داسې ډول خپرول چې هغه ته يې زيان ورسيږي ؛ خپل ځان سوځونې ته د يوې ښځې مجبورول ؛ د ژوبلې يا معيوبيت باعث ګرځيدل ؛ وهل ؛ د ازدواج لپاره يا په دې بهانه د ښځو اخيستل او خرڅول ؛ په بدو کې ورکول (د يوې شخړې د حل لپاره يوې ښځې نجونې ورکول) ؛ جبري ازدواج ؛ د ميړه له انتخابولو څخه منع کول ؛ له قانوني عمر څخه د مخه په ازدواج کې ورکول ؛ ناوړه استفاده ، توهينول يا بيرول ؛ ځورونه او تعقيبونه ؛ په جبري ډول په انزوا کې ساتل ؛ په جبري ډول په نشه يی توکو روږدي کول ؛ د ميراث له حقونو څخه انکار کول ، د تعليم ، کار او روغتيايي خدمتونو ته د لاس رسي حق نه منل ، جبري کار او له يوې ښځې څخه له زياتو سره ازدواج کول بې له دې چې د مدني قانون ۸۶ ماده په پام کې ونيسي.

[۲۶] شپږم شميره لمن ليک وګورئ.

[۲۷] وګورئ د ښځې پر عليه د تاوتريخوالي د منع د قانون ۳۹: په قضيو باندې قضاوت د دعوا د يوې لورې له خوا په بل هغه شکايت په کې شوی وي او د جرمونو د مرتکبينو عدلي تعقيب چې د دې قانون ۲۲- ۳۹ مادو پورې تعيين شوی وي بايد د هغه شکايت پر بنسټ حل شي ، چې د دې /هغې د مدافعې وکيل له خوا ثبت شوی وي. ب) قرباني کولای شي د قانوني مراحلو په هره دوره کې خپل شکايت بيرته واخلي (کشف ، تحقيق ، محاکمه ، محکوميت) خو د هغو شرايطو په شتون کې چې د دغې مادې په لومړی پراګراف کې بيان شوي دي ، په داسې حالت په پروسه باندې قضاوت او مجازات بايد ودرول شي.

[۲۸] د افغانستان د اسلامي جمهوريت د اساسي قانون ۵۴ ماده تصريح کوي: کورنۍ د ټولنې اساسي رکن دی او د دولت تر پاملرنې لاندې ده. دولت د کورنۍ او په ځانګړې توګه د مور او ماشوم د جسمي او روحي روغتيا د تامين ، د ماشومانو د روزنې او د اسلام د سپيڅلي دين له احکامو سره د مغايرو رسومو د له منځه وړو لپاره لازم تدبيرونه نيسي.

د افغاناستان قوانين[۲۹] د تاوتريخوالي د قربانيانو لپاره د دوي د قضيو د قانوني تعقيب په دوران کې ساتنه برابروي لکه: په احترام او انصاف سره د چلند کولو حق ؛ د خونديتوب حق ؛ د قانوني مراحلو په اړه معلوماتو ته د لاس رسي حق ؛ د محرميت د درلودلو حق ؛ په قانوني مراحلو کې د برابري پر بنسټ د شموليت حق ؛ د خسارې د جبران ؛ اغيزمن او د وړيا قانوني ، طبي ، رواني او ټولنيزو خدمتونو د درلودلو حق.

د جبران کولو داسې اختصاصي قانوني لارې چارې نشته (د مثال په توګه د تحفظ او محدوديت احکام) چې مظلومو ښځو او د دوي ماشومانو ته تحفظ ورکړي ، او په پايله کې قربانيان په عملي ډول له تاوتريخوالي سره مخامخوي ، په نړيواله کچه د کړنو د ښو نمونو پر بنسټ د جبران کولو قانوني لارې چارې بايد داسې اختصاصي احکام احتوا کړي چې ماشومانو ته تحفظ ورکړي ، د نکاح له فسخ کولو څخه وورسته د نفقې حق ورکړي او د دې حق ولري چې د واده په کور کې و اوسي چې ښايي د ښځو په دې پريکړه ډيره اغيزه وکړي چې له ناوړه شرايطو څخه فرار وکړي او که هلته پاتې شي.

د هرې افغان ميرمن لپاره نافذ قانوني چوکاټ (له تاوتريخوالي سره مخامخ شوي وي او که نه وي) د ماشوم ساتنه تر اوو کلونو او د ماشومامې ساتنه تر نهو کلونو پورې د مور په اختيار کې ورکوي.[۳۰] خو کلتوري دودونه ډير ځله پلار د ماشومانو د وصي په ډول ټاکي او ډيری ښځې محکمو ته مراجعه نه کوي چې د ماشومانو د ساتنې حق تر لاسه کړي.

د نکاح له فسخ کولو څخه وروسته ، ميړه مسووليت لري چې يوازې د عدت[۳۱] د مودې لپاره (د انتظار موده)[۳۲] د ښځې نفقه برابره کړي. د قانون له مخې داسې تعريف شوې ده چې د ښځې د بنسټيزو اړتياوو ته به رسيدګي کوي.[۳۳] د قانوني حق نشتوالی چې د ميړه او د هغه د کورنۍ د رضايت څخه پرته د ميړه په کور کې و اوسي ، کولای شي د تاوتريخوالي په صورت کې د ښځې موقف ته زيان ورسوي ، ځکه ښايي چې د شکايت کولو له امله خپل کور له لاسه ورکړي ، لکه څنګه چې په ډيری مواردو کې داسې شوي دي.

*شرعي قانون*

اسلام انساني کرامت ته ډير درناوی کوي او په قران کريم او حديثونو کې ډيری داسې اشارې شته چې له ښځو سره په مهرباني ، نرم والی ، درناوي عزت سره چلند وکړئ.[۳٤] قران کريم وايي چې ښځې او سړي يو شانته دي او بايد په يو شان چلند ورسره وشي.[۳۵]

قران کريم او احاديث د شخړو په حل کې په يوې سوله ييزې لارې ټينګار کوي چې بايد له عدالت سره مله وي.[۳٦] منځګړيتوب ، سوله او تحکيم درې اصطلاح ګانې دي چې په اسلام کې دې ته اشاره کوي چې د دعوو د خواوو ترمنځ شخړه بايد په سوله ييزه

[۲۹] د نورو تر څنګ ، د ښځې پر عليه د تاوتريخوالي دمنع د قانون ۶ ماده ، د اساسي قانون ۲۲ ماده او د جزايي اجرااتو ۶ او ۶۶ ماده.

[۳۰] مدني قانون ۲۴۹ ماده.

[۳۱] مدني قانون ۱۲۶ ماده: "طلاقه شوې د طلاق د نيټې څخه د عدت د پای ته رسيدو پورې د نفقې حق لري."

[۳۲] مدني قانون ۱۹۸ ماده: "عدت د يوې ټاکل شوې مدې څخه عبارت دی چې د هغې په تيريدو سره د ازدواج ټول مرتب اثار د منځه ځي."

[۳۳] مدني قانون ۱۱۸ ماده: "د ښځې نفقه مشتمله ده په خوراک ، لباس ، د اوسيدلو په ځای او د ښځې په دارو کولو خو د ميړه د مالي قدرت په تناسب."

[۳٤] د آياتونو له جملې دغه يې د مثال په توګه وړاندې کيږي: (ژباړه) له هغوي (ښځو) سره په مهرباني چلند وکړئ ، او که چيرې تاسې هغوي هم نه خوښوي ، بيا هم له هغوي سره جوړه وکړئ ، ښايي داسې وي چې تاسو يو شي نه خوښوي ، خو الله تعالی په هغه کې ډير خير اچولی وي. (النساء ، ۱۹).

[۳۵] څوک چې نيک کارونه کوي ، که هغه نارينه وي يا ښځينه په داسې حال چې مؤمن ، نو هغوي به جنت ته داخليږي ، له دوي سره به د يوې ذرې په اندازه هم ظلم و نه شي. دلته د ښځې او نارينه ترمنځ هيڅ توپير نه کيږي. (النساء ۱۲۴) ، ای خلکو تاسو مو له نارينه او ښځې (آدم او حوا) پيدا کړی ياست ، او د دې لپاره چې يو يل وپيژنئ تاسې مو په قومونو او مليتونو ويشل ياست ، د الله په نزد ستاسو بهتر هغه دی ، چې پرهيزګار وي ، الله تعالي په هرڅه پوه او خبر دی. (الحجرات ۱۳)

[۳٦] که چيرې د مومنانو د دوو ډلو ترمنځ شخړه وي ، نو د دوي ترمنځ سوله وکړئ ، که چيرې يې يوه يې پر بلې بغاوت وکړي ، نو د هغې د بغاوتګرې ډلې په وړاندې تر هغې وجنګيږئ ، ترڅو د الله حکم ته غاړه کيږدي ، که چيرې مقابل لوری د الله حکم ته غاړه کيږي ، نو د هغوي ترمنځ په عدل او انصاف سره سوله وکړئ ، بيشکه الله تعالي د انصاف خاوندان خوښوي. (الحجره ۱۰). ټول مومنان د ورونو په شان دي ، د دوو مخالفو ورونو ترمنځ سوله وکړئ او له الله څخه وډار شئ ، ښايي پر تاسو رحم وشي. د مسلمانانو ترمنځ پخلاينه مجاز ده ، خو که

لار حل شي. که څه هم هره اصطلاح په جزئیاتو کې توپیر لري ، خو ټول د شخړو د حل لپاره د سوله ییزې حل لارې وسیلې دي ، چې شریعت پرې ټینګار کوي او کارونه یې مجاز دي.

د قران کریم ځینې ایتونه او همدارنګه احادیث په مستقیم ډول په ټولنه کې له جګړو سره په تړاو کې دي ، او کیدای شي په هغو شخړو کې هم د تطبیق وړ وي چې په یوه کورنۍ کې د ننه راپیدا کیږي. څرنګه چې کورنۍ ته ډیر اهمیت ورکړل شوی ، قران کریم د هغو شخړو او مخالفتونو په اړه ځانګړي ایتونه نازل کړي چې په وداکړي ژوند کې راپیدا کیږي.[۳۷]

له دې امله قران کریم په خاص ډول په کورنۍ کې د ننه د مخالفتونو د حل لپاره سوله ییز لار غوره ګڼلې او په دې ټینګار کوي چې دغسې حل لارې باید دواړو خواوو ته عادلانه وي او دواړو خواوو ته په غیر جبري ډول د منلو وړ وي. دغه پروسه په دې ډول توضیح شوې ده چې دواړه خواوې دې ته وهڅوي چې له ځینو غوښتنو څخه تیر شي څو د حل لار پیدا شي او د یو والی او د افرادو او ډلو درناوي وشي.

منځګړیتوب یا شورا په اسلامي قضاوت کې په حقوقي ، تجارتي یا په جزایي قضیو کې په پراخه پیمانه کارول کیږي ، خو نه د حدودو[۳۸] په جرمونو او د عمدي وژنو په قضیو کې ، په شریعت کې په دې ټینګار شوی چې شورا یا منځګړیتوب باید د عدالت پیروي وکړي او د منځګړي یا قاضي په غاړه زیات مسوولیت پروت دی چې باید بې طرفه او عادل وي او له انصاف څخه کار واخلي.

*پر ښځو د تاوتریخوالي د قضیو لپاره قانوني پروسه*

د اوسنی قانوني چوکاټ دننه د تاوتریخوالي د یوه مشخص جرم ښځینه قرباني کولای شي چې پر ښځو د تاوتریخوالی د منع د قانون له مخې د دې حق لري چې د ښځو چارو ریاست ، د حقوقو ریاست ،[۳۹] د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون د پولیسو یا څارنوالي دفتر ته مراجعه وکړي او هلته خپل شکایت وړاندې کړي چې مسلې ته یې رسیدګي وشي. دغه ادارې ډیر ځله یا منځګړیتوب کوي یا ښځه اړونده خدمتونو ته وربیژني ، لکه د ښځو لپاره امن خونې ، که چیرې هغه راضي وي ، له دغو ادارو څخه هره یوه هڅه کوي چې مسله د منځګړیتوب او خبرو اترو[٤٠] له لارې حل کړي چې د کورنۍ واحد په ساتنه کې د لومړي ګام په څیر کتل کیږی- په دې شرط چې د تاوتریخوالي عمل د هغو پینځو جرمونو له ډلې څخه نه وي چې باید تر عدلي تعقیب لاندې را شي لکه څنګه چېپر ښځو د تاوتریخوالی دمنع قانون تصریح کړې ده.[٤١] که چیرې ښځه پریکړه وکړي چې خپل شکایت د جزایي عدالت د سیستم په چوکاټ کې تعقیب کړي ، دغه ادارې د دې شکایت پولیسو ، په ډیری مواردو کې ، د څارنوال دفتر ته راجع کوي.

---

هغو حلال حرام او حرام حلال وګرځوي (سنن ابن ماجه ، ۲ ټوک ، ۷۸۸ مخ). همدارنګه (بیشکه الله تعالی تاسو ته امر کوي ، چې امانتونه خپل اهل ته وسپارئ او کله چې د خلکو ترمنځ قضاوت کوئ نو له انصاف او عدالت کار واخلئ ، غوره هغه څه دي چې الله یې تاسو ته لارښوونه کوي ، بیشکه چې الله تعالی اوریدونکی او لیدونکی دی) (النساء ۵۸). که چیرې تاسو د دوي (ښځه او خاوند) ترمنځ د بیوالي ویره لرئ ، نو د دواړو خواوو څخه یو یو منځګړی وټاکي ، که چیرې دوي د هغوي پخلاینه وغواړي الله به یې سره یو ځای کړي ، الله پر هر څه پوه او خبر دی. (النساء ۳۵).

[۳۷] د مثال په ډول (النساء ۱۲۸) ژباړه: که چیرې یوه ښځه د خپل خاوند له کرکې او طغیان څخه ویره ولري ، کوم خنډ شتون نه لري څو په خپلو کې سره سوله وکړي ، سوله له هر څه غوره ده ، که څه هم په انساني فطرت حرص غلبه لري. که چیرې نیکي او پرهیزګاري وکړئ ، الله پر هر هغه څه چې تاسو یې ترسره کوي ، خبر دی.

[۳۸] جرم د شریعت له نظره د الله له اوامرو څخه سرغړونه ده ، چې مجازات یې اختیاري نه بلکي اجباري دي ، د حدودو په اوو جرایمو کې دغه جرایم شامل دي: زنا ، غلا ، قطاع الطریقي ، قذف ، بغاوت ، شراب څښل ، ارتداد.

[۳۹] د حقوقو عمومي ریاست په کابل کې موقعیت لري ، چې د حقیقي او حکمي اشخاصو ترمنځ د جزایي اجرااتو د قانون او د حقوقو د ترلاسه کولو د قانون سره سم هغه شخړې هواروي ، چې له پور ، ملکیتونو او د دغو اشخاصو په کورنیو پورې تړاو ولري. د افغانستان په ټولو ۳۴ ولایتونو کې د حقوقو ریاستونه موجود دي.

[٤٠] د کورنۍ د واحد د ساتنې په موخه د اساسي قانون له خوا د ارجحیت لپاره ۲۸ شمیره لمن لیک ته مراجعه وشي.

[٤١] شپږم شمیره لمن لیک ته مراجعه وکړئ.

ښځه دغه راز ، کولای شي چې په مستقیم ډول پولیس یا څارنوالی ته مراجعه وکړي. کله چې شکایت یو ځلی له پولیسو سره ثبت شو ، پولیس باید قضیه د نورو تحقیقاتو لپاره د اړونده څارنوال دفتر ته واستوي- (خو که قضیه د منځګړیتوب په ذریعه تر اجرا لاندې وي- چې کیدای شي پر ښځو علیه د تاوتریخوالی د منع د قانون د ادارو ، د شخړو د حل د دودیزو میکانیزمونو او غیر دولتي موسساتو له خوا اجرا کیږي.) کله چې قضیه څارنوال ته ورسیده ، دی یا دا د لومړنیو تحقیقاتو او د څارنوال اړوند صلاحیت پر بنسټ پریکړه کوي چې قضیه پر ښځو د تاوتریخوالی د منع د قانون او که د جزا د قانون لاندې یا دواړو لاندې تر تعقیب لاندې ونیول شي او کولای شي چې قضیه محکمې ته راجع کړي چې محاکمه ورباندي دایره شي.

## ۵. د مستندو قضیو انځور

یوناما د ۲۰۱۴ د اگست او ۲۰۱۵ د فبروري ترمنځ د ۱۱۰ ښځو (۹۶ ښځې او ۱۴ نا بالغه نجونو) قضیې مستندې کړې دي ، چې یا د منځګړیتوب یا د محکمې تر قضاوت لاندې وې څو د دوی په وړاندې د اجرا شوي تاوتریخوالي مسلې ته رسیدګي وشي. که څه هم د دغو ډیرو ښځو عمرونه د ۱۸ او ۳۰ کلونو منځ کې وو (د ټولو قضیو ۶۶ سلنه)، یوناما د داسې نجونو تجربې هم ثبتې کړې چې د اتو کلونو په عمر وې او د تاوتریخوالي قرباني وې (دوه قضیې) او دغه راز ۶۰ کلنې ښځې هم په دې قضیو کې شاملې وې.

ګراف ۱: د عمر په لحاظ بېلوالی




د یوې ښځې پرته چې د پاکستان تبعه وه ، نورې ټولې ښځې افغاناني وې. په دې نمونه کې د مختلفو قومونو ښځې شاملې وې لکه ، تاجیک (۴۶) پښتون (۲۶)، هزاره (۱۹)، ازبک (۷)، پشه ای (۵)، نورستاني (۳)، سید (۲)، عرب (۱) او پچاوري (۱).

د مرکو او د قضیو د مشاهدې په ترځ کې یوناما د تاوتریخوالي ۱۴۸ پیښې مستندې کړي چې راپور یې ورکړل شوی او څرګنده شوه چې د ۱۱۰ تنو ښځو او نجونو څخه ځینې یې په څو ځله د تاوتریخوالي له بیلا بیلو شکلونو سره مخ شوې دي.[42] لکه څنګه چې په لاندې جدول کې ښودل شوي ، وهل او ژوبلول د مرکه شویو پر ښځو له هغو جرمونو څخه وو چې د راپورونو له مخې زیات تکرار شوي او د هغو تمایلاتو پخلی کوي چې د حکومت ،[43] یوناما ،[44] او د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون[45] له خوا مستند

[42] د تاوتریخوالي څو کرتې کیدلای شي چې په یوه شکایت کې ځای شي.
[43] ۱۲ او ۱۴ شمیره لمن لیکونه وګورئ.
[44] لومړۍ شمیره لمن لیک وګورئ.
[45] د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي په اړه د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د راپور لنډیز (۸ مارچ ۲۰۱۵) په لاندې ویب پاڼه د لاس رسي ور دی: http://www.aihrc.org.af/home/daily_report/4172 .

شوي دي. يوه ښځه چې د دې راپور لپاره مرکه ورسره شوې وه د جبري ځان سوځونې له امله په هغه وخت کې مړه شوه چې د خپل ځان په وړاندې د تاوتریخوالي په ضد یې راپور ورکړی و.[٤٦]

**لومړی جدول: پر ښځو پر د تاوتریخوالی د منع د قانون له مخې د تاوتریخوالی د ډول پر اساس د قضیو شمیر**

| د تاوتریخوالي ډول | د شکایتونو شمیر | د ټولو ثبت شویو شکایتونو سلنه |
|---|---|---|
| وهل او ژوبلول | 66 | 45% |
| ناوړه ګټه اخیستل ، توهینول او ببرول | 20 | 14% |
| ځورول /تعقیبول | 9 | 6% |
| د واده د حق یا د میړه د انتخاب له حق څخه محرومول | 7 | 5% |
| د تعلیم ، کار او روغتیایي خدمتونو ته د لاس رسي له حق څخه محرومول | 7 | 5% |
| د میراث له حق څخه محرومول | 6 | 4% |
| په زوره ودول | 5 | 3% |
| بدلمني ته مجبورول | 5 | 3% |
| له قانوني عمر څخه مخکې ودول | 4 | 3% |
| په جبري ډول انزوا کول | 4 | 3% |
| *په بدو ٔ کې ورکول* | 4 | 3% |
| د ځان سوځونې یا وژنې یا د زهرو یا نورو خطرناکو موادو د خوړولو لپاره مجبورول | 3 | 2% |
| د واده لپاره یا په دې پلمه د ښځو اخیستل او خرڅول | 2 | 1% |
| د شخصي ملکیت له درلودلو څخه منع کول | 2 | 1% |
| د خپلوي له اړیکو څخه انکار کول | 2 | 1% |
| له یوې ښځې څخه د زیاتو ښځو سره واده کول بې له دې چې د مدني قانون ۸۶ ماده په پام کې ونیسي. | 2 | 1% |
| او یا د کیمیاوي موادو یا نورو خطرناکو موادو کارول | - | - |
| د قرباني شخص د هویت ثبتول او هغه په داسې طریقه په عام ډول خپرول چې د قرباني شخصیت ته زیان ورسوي. | - | - |
| اجباري کار | - | - |
| په نشه یي توکو روږدی کېدو ته د ښځو اړ ایستل | - | - |
| ټولټال | **148** | **100%** |

زیاترو مرکه شویو ښځو (٪۶۷) د تاوتریخوالي د ګڼو پېښو د تجربه کېدو څخه فقط وروسته د ثبت د چارواکو سره شکایت درج کړی.

[٤٦] د یوناما له خوا ساحوي څارنه ، جنوري ۲۰۱۵.
[٤٧] د کورنیو ترمنځ د سولې د رامنځ ته کولو په موخه د وژنې ، جنسي تیري یا بل جرم د جبران کولو لپاره د ښځو ورکړه.

د ۱۵۰ ادعا شویو سرغړونکو د جملې څخه ، نږدې ټول سرغړونکي ژوندي پاته شویو کسانو ته معلوم وو ، او په نږدې ٪۹۴ قضیو کې یې خپلوان ښکیل وو. پر ښځې د تاوتریخوالي ادعا شوي ۲۰ تنه مرتکبین چې مرکې ورسره وې دې نورې ښځې وې(د ژوندي پاتې شویو کسانو میندې ، خواښې ګانې ، خوندې او خوښینې)، د ادعا شویو مرتکبینو ۱۳ سلنه جوړوې.

## ۶. موندنې

### ۱.۶ د شکایت ثبتول

> *"د ښځې لپاره ښه نه ده چې پولیسو ته مراجعه وکړي"*
>
> **ل ، عمر ۲۶ کاله ، د کابل د ولایت څخه ، ۲۰۱۴ کال ، اګسټ**
>
> *"ما د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د شتون په اړه د تلویزیون څخه اوریدلي وو چې د ښځو شکایتونو ته ځواب وایي. ما د خپلې مشرې خور څخه وغوښتل چې زما ملګرتیا وکړي. موږ ته د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د دفتر پته معلومه نه وه خو موږ د تکسي چلونکي څخه وغوښتل چې موږ هلته ورسوي"*
>
> **ح ، عمر ۲۳ کاله ، د بلخ د ولایت څخه، ۲۰۱۴ کال ، اګسټ**

یوناما مشاهده کړې چې د ۱۱۰ مرکه شویو ښځو له جملې څخه زیاترو یې پر ښځو د تاوتریخوالي د منع د قانون د ادارو سره خپل شکایتونه ثبت کړي[۴۸]. د ټولټال ۱۱۷ ثبت شویو شکایتونو د جملې څخه ، ۳۵ شکایتونه د ښځو د چارو ریاست ته ، ۳۴ پولیسو ، ۱۶ د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون ، ۱۲ د څارنوال دفتر او یو شکایت محکمې ته وړاندې شوی. پاته ۱۹ شکایتونه غیر دولتي سازمانونو او د شخړې د حل عنعنوي میکانیزمونو ، د بیلګې په توګه ځایي شوراګانو/جرګو[۴۹] یا د علماوو شوراګانو ته وړاندې شوي.[۵۰]

**دوهم ګراف: د اداري لخوا د شکایتونو ثبتول**




[۴۸] ۱۳ شیمره لمن لیک ته مراجعه وکړئ.
[۴۹] ځایي شوراګاني.
[۵۰] شوراګانې د مذهبي علماوو څخه ترکیب شوي.

د راپور لپاره د مرکه شویو ښځو د شمیر (۱۱۰) او د ثبت شویو شکایتونو د شمیر(۱۱۷) تر منځ توپیر ښي چې ځینو ښځو د ورته موضوع په اړه ګڼو ادارو سره تماس نیولی. مرکې ښي چې داسي پریکړې ځکه نیول شوې وې چې د ځینو ادارو د کار د سر ته رسونو په اړه بې اعتمادي او تردید موجود و چې د ښځو پر مخکنیو منفي تجربو پر بنسټ ولاړ و. په حد اقل یوه قضیه کې ، د ثبتولو مسوول د یوه خپلوان په وړاندې د شکایت د ثبت کولو څخه د دې لپاره انکار کړی او ادعا یې کوله چې دا کار په کلتوري لحاظ د نه منلو دی.

د یوناما ملاحظه ښي چې د ښځو پریکړې چې موخه یې د خپل وضعیت په اړه د شکایت د ثبتولو له لارې د سکوت ماتول او له منځه وړل دي ، د یو شمیر لاملونو په نتیجه کې را منځ ته کیږي ، د دې په شمول: ژوند ته د دایمي ګواښ حالتونه چې موخه یې د ښځې یا د نومورې د ماشومانو هدف نیول دي ، په غیر رسمي توګه د ناوړه حالت د ځوابولو په پخوانیو هڅو کې پاتې راتلل ، په قضایي سیستم کې ارتباطات ، کومې چې د حقوقي ساتنو د زده کړې په هکله د ښځو سره د مرستې کولو په برخه کې ګټورې وې او د هغو ښځو لپاره چې د تاوتریخوالي څخه ژوندۍ پاتې کیږي خاصو خدمتونو ته جغرافیایي نږدېوالی(د بیلګې په توګه ، قانوني ، فزیکي او روغتیایي ساتنه)شامل دي. د ښځو هغه انتخابونه چې کومې ادارې ته راپور ورکړی تر زیاتې اندازې په دې پورې تړلی دی چې دوی د خدمتونو د برابرونکو د ځایي شتون په اړه څومره خبر دي او په انفرادي ادارو څومره باور لري چې وکولای شي د دوي قضیې په سم ډول مخته بوزي او تعقیب کړي.

د هغوی د شکایت د ثبتولو پر مهال د یو څو استثناوو سره ، [51] هغه ښځې د کومو سره چې ناوړه چلند شوی روښانه لید لوری نه لري ، نه پوهیږي چې خپلې قضیې د جنایي تعقیب او یا منځګړیتوب له لارې حل کړي. د دې په پایله کې ، د حقوقي انتخابونو او موجوده خدمتونو دواړو په هکله ښځو ته د تولو اړینو معلوماتو د برابرولو او د ښځو سره په درناوي او معزز ډول د چلند کولو په برخه کې د ثبت د مسوول شخص غبرګون مهم و. د هغو ادارو اجراات چې ښځې ورسره په لومړي ځل د خپلو شکایتونو په باب اړیکه ټینګوي عدالت ته د ددوي د لاسرسي په اړه د پام وړ اغیز لري.

## ۶. ۲ د محکمې د قضاوت یا منځګړیتوب له لارې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د شکایتونو/قضیو حل

> *"زه ده ته بیرته ورځم ځکه چې زه بله چاره نه لرم. که چیرې ما پیسې او په کور کې یو څوک درلودلای چې زما د ماشومانو خیال وساتي ، ما به هیڅکله هم خپل شکایت بیرته نه وای اخیستی. ما غوښتل چې دی باید سزا وویني."*
>
> **ر ، عمر ۳۵ کاله ، جوزجان ولایت ، ۲۰۱۴ کال ، نومبر**

### عمومي پایلې

یوناما موندلې چې د ۱۱۰ قضیو د جملې په ۸۰ قضیو کې نهایي حل لارې موندل شوي ، او پاته ۳۰ قضیې د دې راپور د لیکلو پر مهال لا روانې وې. ۵۲ قضیې(۶۵ سلنه) د منځګړیتوب له لارې حل شوې ، پر ښځو د تاوتریخوالي د منع قانون د ۳۹ مې مادې سره په سمون کې د شکایتونو بیرته اخیستلو ته لار هواره وې. نورې ۱۳ قضیې د بهرني فشار یا د یوې ښځې لخوا د رضاکارانه پریکړې له امله بیرته اخیستل شوې او کیدای شي انګیزه یې د قضایي اجرااتو د اوږدې مودې پر سر د نا هیلۍ په شمول یو شمیر لاملوونه وې.

[51] د پولیسو سره د راپور ورکولو په نسبت د ښځو د چارو د ریاست سره د یوې دوسیې ثبتول د کمې مشاجرې وړ دی او دې ته لومړیتوب ورکول په وار وار تشریح شوي ، او دا د عنعنو سره په زیات سمون کې دی او اړین جنایي تعقیب ته به لار هواره نه کړي.

د ۱۱۰ قضیو د جملې څخه یواځې ۵ سلنه قضیې (څلور) د جنایي عدالت د پروسې له لارې حل شوې وې چې په نتیجه کې یې د مرتکبینو په وړاندې مجازات وضع شوي. دغه حالت د ښځو د پام وړ ارجحیت منعکس کوي چې غواړي قضیې د منځګړیتوب له لارې حل کړي ، دغه ارجحیت د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون[۵۲] د پلي کولو په هکله د دولت د دوو راپورونو سره سمون لري. د اجباري فحشا/بدلمنی د یوې قضیې په استثنا سره ، د منځګړیتوب هڅو د هغو جرمونو سره تړاو نه درلود چې پر ښځو د تاوتریخوالي د منع د قانون د ۳۹ مې مادې د موجوده حقوقي چوکاټ سره په سمون کې باید د قضایي سیستم له لارې تر عدلي تعقیب لاندې نیول شوي وای.

| پایلې | تولټال |
|---|---|
| **نهایي پایله تر لاسه شوې** | |
| د محکمې له خوا فیصله شوې | 4 |
| منځګړیتوب | 52 |
| تاوتریخوالي پای ته ورسید او اداري قضیه تړلې | 10 |
| بیرته اخیستنه | 13 |
| د شکایت کوونکي له خوا نه ده تعقیب شوې | 1 |
| قسمي تولټال وروستی پایلې | 80 |
| **لا هم په پروسس کې دي** | |
| د کورنیو چارو وزارت ، عدلیې وزارت او د لوي څارنوال له دفتر پرته د ثبت له نورو ادارو سره | 2 |
| د کورنیو چارو د وزارت سره | 3 |
| د څارنوالۍ سره | 12 |
| د محکمې /محکمو عدلیې وزارت سره | 11 |
| د شخړو د حل له دودیزو میکانیزمونو سره | 1 |
| د شکایت کوونکي له خوا نه ده تعقیب شوې | 1 |
| **قسمي تولټال وروستی پایلې** | **30** |
| **تولټال** | **110** |

د یوناما څیړنې مستنده کړې چې پر ښځو د تاوتریخوالي د منع د قانون ادارو اکثرا شکایتونه له ګڼو لارې حل کړي: د منځګړیتوب هڅه ، د عدلي تعقیب په موخه د قضیو ارجاع او/یا د هغوي د اختیاراتو په سمون کې د جنایي تعقیب دوام. پر ښځو د تاوتریخوالي د منع د قانون د ادارو او غیر دولتي سازمانونو او د شخړو د حل د دودیزو حل لارو تر منځ ارجاع ګانې په مکرر ډول مشاهده شوې ، او د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي په قضیو کې د ټولو ښکیلو فعالینو تر منځ نږدې اړیکو ته اشاره کوي. د شخړو د حل د دودیزو حل لارو او پر ښځو د تاوتریخوالي د منع د قانون د ادارو لخوا د منځګړیتوب په حد اقل ۱۷ ناستو کې همکاري د لیدو وړ وه(د منځګړیتوب د پایلو په اړه لاندې مراجعه وکړئ).

## د محکمې د قضاوت پایلې

د ۱۱۰ قضیو د جملې څخه ، هغه ۳۰ قضیې چې د جنایي عدالت په سیستم کې ثبتې شوې د دې راپور د لیکلو پر مهال په تعلیق کې پاتې شوي. د ۱۱۰ قضیو د جملې څخه ۱۰ قضیې د محکمې لخوا فیصله شوې او پر ښځو د تاوتریخوالي د منع د

[۵۲] ۱۲ او ۱۴ لمن لیکونو ته مراجعه وکړئ.

قانون لاندې يې ۱۰ محکومیتونو ته لار هواره کړې او په هيڅ يوې قضيې کې برائت نه دی ورکړل شوی. د دې راپور د ليکلو پر مهال د ۱۰ محکوميتونو د جملې څخه ۶ يې د استيناف د محکمې د پريکړې انتظار باسلو.

پر ښځو عليه د تاوتريخوالي د منع د قانون د ۱۸ مادې لاندې د اجباري فحشا /بدلمنۍ په دريو قضيو کې د بيلابيلو سزاګانو حکم ورکړل شوی. دا سزاګانې بيلابيلې او د اوو کلونو ، پينځو کلونو او ۱۸ مياشتو لپاره وې. نافذه قانون د ۷ کلنې سزا اختيار لري او که چيرې قرباني شخص / مجني عليها نا بالغه ښځه وي[53] کيدای شي دا موده ۱۰ کلونو ته وغځول شي.

د وهلو او ټپي کولو په يوه قضيه کې ، د يوې مياشتې ابتدايي حبس ، چې بنسټ يې پر ښځو د تاوتريخوالي د منع د قانون په ۲۳ ماده ولاړ و[54] ، پر ښځو د تاوتريخوالي د منع د قانون د ۲۲ مې مادې[55] لاندې او د دې مادې په غوښتنه په يوه کال بدله شوه. دا ماده غوښتنه کوي چې د فزيکي ټپ او زيان لپاره د جزا د قانون د ۴۰۸ مادې لاندې جزا معلومه شي(د بيلګې په توګه ، لنډ مهاله حبس چې له دريو مياشتو کم او له يوه کال څخه زيات نه وي).

د وهلو او ټپي کولو په پنځو قضيو کې ، پر ښځو د تاوتريخوالي د منع د قانون د ۲۳ مادې لاندې د يوې نيمې مياشتې حبس د سزاګانو حکم شوی ، ماده يادونه کوي چې د حبس موده د دريو مياشتو څخه زياته نه وي.

د وخت څخه وړاندې د واده په يوه قضيه کې ، پر ښځو د تاوتريخوالي د منع د قانون د ۲۸مې مادې لاندې ابتدايه محکمې مرتکب شخص په يوه کلن بند محکوم کړ. د استيناف محکمې د پاتې شپږو مياشتو د بند موده په ۶۰۰۰ افغانيو جريمې اړولې. پر ښځو پر د تاوتريخوالي د منع د قانون ۲۳ مې مادې د وخت څخه وړاندې واده د جرمونو لپاره د منځنۍ کچې حبس چې د دوو کلونو څخه کم نه وي مقرروي.

د راغونډو شويو اطلاعاتو په حواله ، يوناما مشاهده کړې چې د لسو سزا ګانو د جملې څخه درې يې چې د محاکمو لخوا صادرې شوي د قاضيانو لخوا په نرمښت او زړه سوی تفسير شوي دي چې پر ښځو د تاوتريخوالي د منع د قانون سره مطابقت[56] نه لري. دا د قضايي چارواکو لخوا پر ښځو د تاوتريخوالي د منع د قانون د کارونې او پوهاوي د غښتلتيا لپاره په دوامداره اړتيا ټينګار کوي.

### د منځګړيتوب پايلې

د ښځينه شکايت کونکو او منځګړو لخوا د هغو اطلاعاتو پر بنسټ کوم چې يوناما ته وړاندې شوي ، د ۱۱۰ مشاهده شويو قضيو د جملې څخه د ۶۶ قضيو د منځګړيتوب لپاره ۱۲۶ ناستې ترسره شوي دي. کيدای شي دا د تاوتريخوالي څخه د ژغورل شويو ښځو په منځ کې هغه ارجحيت ته اشاره وکړي چې غواړي د مسلطو شرايطو لاندې خپلې قضيې حل کړي. يوناما د ۱۱ قضيو سره مخ شوې په کومو کې چې د منځګړيتوب پريکړه د جنايي اجرااتو د تعقيب پر ځای د درېيم اړخ له لوري ، د بيلګې په توګه ، د

---

[53] د ښځې پر عليه د تاوتريخوالي د منع د قانون ۱۸ ماده تصريح کوي: "هغه شخص چې بالغه ښځه فحشاء ته مجبوره کړي ، له احوالو سره سم په اوږده حبس چې له اوو کلونو څخه لږ نه وي ، محکوميږي ، که چيرې د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي جرم مجني عليها نا بالغه ښځه وي ، مرتکب له احوالو سره سم په اوږده حبس چې له لسو کلونوڅخه کم نه وي ، محکوميږي."

[54] د ښځې پر عليه د تاوتريخوالي د منع د قانون ۲۳ ماده يادونه کوي:". هغه شخص چې ښځه تر وهلو ټکولو لاندې ونيسي خو پر ټپي يا معلوليت يې تمام نه شي ، له احوالو سره سم په لنډ حبس چې له دريو مياشتو څخه زيات نه وي ، محکوميږي."

[55] د ښځې پر عليه د تاوتريخوالي د منع د قانون ۲۲ ماده يادونه کوي:" هغه شخص چې ښځه تر ضرب او جرحې لاندې ونيسي ، له احوالو سره سم او د جرم د شدت او خفت له په پام کې نيولو سره د جزا د قانون په(۴۰۷ څخه تر ۴۱۰) مادو کې د درج شويو حکمونو مطابق محازاتيږي. که چيرې د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوي اعمال د مجني عليها په مړينه تمام شي ، مرتکب له احوالو سره سم د جزا د قانون په (۳۹۵ څخه تر ۳۹۹)مادو کې درج په اټکل شوي جزاء محکوميږي."

[56] د دې په پام کې نيولو سره چې يوناما نه ده توانيدلې چې د قضيو دوسيې په بشپړه توګه و ارزوي ، يوناما تشخيص کړی چې د مطابقت په اړه د هغوی تحليل ښايي د اندازې له اړخه محدود وي.

کورنۍ د غړو او مشرانو لخوا په ښځه تحمیل شوې او د ښځې انتخاب یې نقض کړی او د پروسې اختیاري ماهیت تر پوښتنې لاندې نیسي.

پر ښځې د تاوتریخوالي د منع د قانون د ادارو لخوا[۵۷] د ۵۴ ناستو ، د شخړې د حل د عنعنوي میکانیزمونو لخوا د ۲۵ ناستو ، دغیردولتي سازمانونو لخوا د ۲۰ ناستو او پر ښځو د تاوتریخوالي د منع د قانون د ادارو او د شخړو د حل د په دودیزو حل لارو د ۱۷گډو ناستو د منځګړیتوب په شمول ، یوناما مستنده کړې چې منځګړیتوب د ګڼو فعالینو لخوا ترسره شوی ، (د بیلګې په توګه ، څارنوال او د کورنۍ یو غړی ، د کورنیو چارو د وزارت د کورني غبرګون واحد او یو تن ملا).[۵۸]

**درېیم ګراف: د اداري لخوا د شکایتونو منځګړیتوب**




لکه څنګه چې په لاندې فهرست کې ښودل شوې ، د منځګړیتوب پایلې متنوع دي ، تر ټولو متداوله او عامه حل لاره د ادعا شوی مرتکب شخص سره د ښځې بیا یو ځای کیدل دي. یوناما دا تمایل د منځګړیتوب د هڅو په ټولو ښکیلو ادارو کې مشاهده کړی. د یوناما موندنې ښیې چې منځګړو د طرفینو تر منځ د پخلاینې د را منځ ته کولو هڅه کوي او د قرباني ښځې څخه غوښتنه کوي چې د کورنۍ د واحد او ټولنیز پیوستون د ساتلو لپاره "تیر هیر کړي". مشاهده شوې پایلې په لاندې ډول خلاصه شوې:

| د منځګړیتوب پر مهال تر لاسه شوې پایلې | قضیې |
|---|---|
| ژغورل شوې شخص او مرتکب سوله کړې او قرباني شخص د کورنۍ د جوړښت سره بیا یو ځای شوی. | ۴۲ |
| هیڅ پریکړه نه ده ترسره شوې | ۱۵ |
| د اجباري نامزادي/واده د باطلولو په اړه د مرتکب شخص له اړخه داډ ، د اجباري نامزادي/ واده په هکله د فشار واردولو څخه ډډه کول ، د واده سره مخالفت. | ۸ |

[۵۷] د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون د ځایي دفترونو لخوا۲ ناستې ، د پولیسو لخوا نهه ناستې ، د محکمې له خوا اته ، د عدلي تعقیب د واحدونو لخوا شپږ ناستې ، د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون لخوا پنځه ناستې او د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون د ولایتي کمیسیون د رییس لخوا یوه ناسته ترسره شوې.
[۵۸] په لودیځه سیمه کې د ۱۰ ناستو په حواله چې کومې اداري منځګړیتوب پرمخ وړی ، معلومات موجود نه دی.

| | |
|---|---|
| نورو ادارو او فعالینو ته ارجاع(د بیلګې په توګه ، د علماوو شورا ، د کورنۍ محکمه ، مشران ) | ۵ |
| د طلاق ورکول | ۴ |
| ژغورل شوي شخص د کورنۍ سره د یو ځای کیدو څخه ډډه کړې او اجازه لري چې یوه بدیل ځای ته ولاړ شي ،(د بیلګې په توګه ، خپلوان ، سرپناه/امن خونه ) | ۴ |
| په جنايي لحاظ د مرتکب شخص د عدلي تعقیب په موخه د ارجحیت سره د ژغورل شوي شخص نه موافقه | ۲ |
| میراث ته لاسرسی تضمین شوی | ۱ |
| **ټولټال** | ۸۱[٥٩] |

یوې موافقې ته د رسیدو په موخه ، پریکړې د یو شمیر زیاتو شرایطو سره تړل شوي چې د منځګړیتوب د ناستو پر مهال پرې موافقه شوې ، او پایلې په شخړه کې د ښکیلو دواړو خواوو د ځانګړو اړتیاوو سره برابرې شوي. لکه څنګه چې په لومړۍ ضمیمه کې ښودل شوې ، په شرایطو کې تر زیاتې اندازې په مرتکبینو باندې د ژمنو تحمیل شامل دی چې موخه یې د ژغورل شویو ښځو د اروايي سلامتی او خوندیتوب ترویج دی(د بیلګې په توګه ، اعتراف یا پیښیماني ، له بیا تکرار کیدلو څخه ډډه ) د هغې لپاره د ژوندانه د مناسبو معیارونو د درلودلو حق(د بیلګې په توګه ، د اوسیدو ښه امکانات ، خوراکي توکي ، کالي)، د تګ راتګ اجازت ، کار او ښوونې او روزنې ازادي(د بیلګې په توګه ، ښځې ته اجازه ورکړل شوې چې د خپلوانو سره و ویني ، د هغه حالت په شمول که چیرې په کورنۍ کې مړینه پیښه شي )، د نقدو پیسو یا جایداد په شکل کې مالي غرامت(د بیلګې په توګه ، د هغې د زامنو لپاره ځمکه). د نقدو پیسو یا اجناسو په برخه کې د خسارې د جبران سره تړلې شرایط تر ډیره بریده د شخړو د حل د عنعنوي میکانیزمونو ، د بیلګې په توګه ، د مشرانو او د شوراګانو د علماوو لخوا د منځګړیتوب په ناستو کې کاریدلې. د یوناما مشاهده همدارنګه ښې چې په ژغورل شویو ښځو او یا دربیمو اړخونو باندې د منځګړو لخوا شرایط وضع شوي(د بیلګې په توګه ، ژغورل شوي کسان د مهر[٦٠] له حق څخه تیر شي).

یوناما مشاهده کړې چې په ۴۴ مواردو کې په کتبي تړونونو کې چې "ضمانت لیکونه"یادیږي او په ۱۱شفاهي قضیو کې پریکړې خلاصه کړې. موندنو د کتبي اسنادو د کارونې په برخه کې (یا د هغه په نه شتون کې) هیڅ ډول ثابتې نمونې نه دي څرګندې کړي څکه چې پر ښځو د تاوتریخوالي د منع د قانون ادارو او د شخړو د حل د دوديزو میکانیزمونو دواړه لارې کارولې. کله چې د میړه او ښځې تر منځ د پخلاینې او بیا یوځای کېدنې په هکله پریکړې شاملې وي او په دې شرط چې میړه د تاوتریخوالي څخه ډډه کړي وي او د هغې اداري د نوعیت څخه پرته چې د قضیې منځګړیتوب کوي د تعقیب کولو مسله کمزورې او یا هیڅ موجوده نه وه.

یوناما موندلې چې متعددو فعالینو د مجازاتو په هکله د تاوتریخوالي د ډک عمل د ثقلت او ماهیت په باب د یوه روښانه معیاري خلاصه شوې لارې پرته منځګړیتوب کړی. یوناما یادونه کړې چې د ورته چوکاټ پرته ، د مناسبو سزاګانو معلومول چې بنسټ یې پر شرایطو ولاړ دی په بشپړه توګه د منځګړو په اختیار کې دی.

[٥٩] د منځګړیتوب د متعددو هڅو له امله د هغو دوسیو د شمیر تر منځ توپیر چې د منځګړیتوب څخه تیري شوی او پریکړې تر لاسه شوی.
[٦٠] د هغو پیسو اندازه چې ژمنه یې په مستقیم ډول د زوم له خوا ښځې ته د واده په وخت ورکړل شوې. دا ژمنه معمولا د واده څخه وړاندې ترسره کیږي خو کیدای شي وروسته او یا د زیاتو کلونو لپاره معطل شي.

د پروژې دچوکاټ په دننه کې ، یوناما توانیدلې چې د ۲۵ پریکړو د تعقیب او تعمیل څرک معلوم کړي. په څه نا څه ۱۳ پریکړو کې ، هغه ترون چې د منځګړیتوب پر مهال ترلاسه شوی و ، مرتکبینو نه دی منلی. د تاوتریخوالي د بیا پیلیدو سره ،ښځو سر پناوو ته د بیا ستنېدنې پریکړه کړې ، د جزایي عدالت د سیستمونو سره یې رسمي شکایتونه درج کړي یا یې د طلاق غوښتنه کړې. د منځګړیتوب نه وروسته د ۱۲ ترونونو حمایت شوی.

## ۶. ۳ د دوسیو دحل په اړه د ژغورل شویو کسانو لرلیدونه

*"ما سره د پولیسو په ماموریت کې مرکه نه ده شوې. زما د راتګ سره سم ، پولیسو ما ته د فاحشې خطاب وکړ او ما ته یې وویل چې د نوموړي دفتر پریږدم. ما نوموړي ته و ویل چې هغه باید لومړی پوښتنه وکړي چې زموږ ستونزه څه ده خو هغه غوږ و نه نیو."*

**ن ، عمر ۲۴ کاله ، د سمنګان د ولایت څخه ، ۲۰۱۵ کال ، فبروری**

*"د منځګړیتوب د ناستې پر مهال ما ته د خپل میړه سره د مخامخ خبرو فرصت را کړل شو ،چې هغه ته توضیح کړم چې ولې ما و نه غوښتل چې د نوموړي د کورنۍ سره ژوند وکړم او ولې جلاکور غواړم."*

**ج ، عمر ۲۵ کاله ، د پکتیا ولایت څخه ، ۲۰۱۴ کال ،سپتمبر**

یوناما مشاهده کړې چې د تاوتریخوالي سره مخامخ ښځې په هغه وخت کې ادارو او غیر رسمی میکانیزمونو ته مراجعه کړې څو د ناوړه سلوک د راپور کولو په موخه راپور ورکړي کله چې یې په فزیکي او رواني لحاظ ټکان اوزیان لیدلی وي ، د کم او یا هیڅ مالي او احساساتي ملاتړ څخه برخمنې نه وي. د هغوي د قضیو مخته بوول او حل ډیره حساسه پروسه ده او اختصاصي سرچینو او مهارت ته اړتیا لري(د بیلګې په توګه ، قانوني او رواني ) چې عدالت او اصلاح ته د رسیدنې په موخه د هغوي مناسب ملاتړ وکړي.

د یوناما څیړنه مشخصوي چې د خدمتونو د کیفیت او سلوک په شمول ، موسساتي غبرګونونه ډیر مهم فاکتور و او ښځو ته د هغوي د قضیو د حل په اړه د اطلاع ور او خپلواکو پریکړو د ترسره کولو اختیار ورکوي. د یوناما لخوا د مرکه شویو ۱۱۰ ښځو له جملې څخه ، ۷۶(۶۹ سلنه) ښځو نظر څرګند کړی چې پر ښځو د تاوتریخوالي د منع د قانون ادارو او د شخړو د حل د دودیزو میکانیزمونو کوم چې د دوي قضیې اداره کوي د هغوي سره ښه چلند کړی.

مرکه شویو ښځو جوته کړې چې دوي هغه فرصت ته په ښه سترګه ګوري چې موخه یې د هغه ناوړه چلند په بشپړه توګه بیانول دي کوم چې دوي تجربه کړی ، هغوي ته باید غوږ ونیول شي او مشوره ورسره وشي. هغوي وویل چې پر ښځو د تاوتریخوالي د منع د قانون ادارو او انجو ګانو د هغوي د حالت د ښه کولو په موخه د ممکنه عدلي او غیر عدلي انتخابونو په اړه د معلوماتو د برابرولو په برخه کې د پام وړ ملاتړ برابر کړی ، خو د شخړې د حل دودیزو میکانیزمونو دا ډول مرستې نه دی برابرې کړي.

د نافذه قوانینو او طرزالعملونو په اړه د بې سوادۍ او مخکني درک نه پرته ، زیاترو ژغورل شویو کسانو د خپلو قانوني حقونو په اړه معلومات نه درلودل. په همدې ډول ، هغوي د خپلو حقونو او قانوني پروسې په اړه ، په خاص ډول د هغې ترمینولوژۍ د کارولو له لارې چې دوي په بشپړه توګه پرې پوهیدل د معلوماتو د تر لاسه کولو په خاطر د ستاینې اظهار کړی. هغه ۲۷ ښځې چې د حقوقي مشورو څخه یې ګټې پورته کړې (زیاتره قانون پوهان د انجو ګانو لخوا په دندو ګمارل شوي او په یوه مورد کې د شخصي قرارداد له مخې ګمارل شوي ) ، دغه ډول خدمتونو د هغوي د قضیې د حل په اړه د اطلاع ور پریکړو د ترسره کولو په برخه کې د هغوي سره د پام وړ رول لوبولی. د هیواد په جنوب شرقي سیمه کې ، یواځې په یوه قضیه کې ، د یوې غیر دولتي

موسسې(انجو) لخوا وړيا حقوقي مرستې د قناعت وړ نه وې ، د بيلګې په توګه ، د محکمې د اجرااتو[٦١] د تعقيب د وړانديني شرط په توګه قانون پوهانو د پيسو په تر لاسه کولو ټينګار کاوه. د مذهب او نافذه قانون په اړه نا سم تعبير زيات شمير ښځو بې لارې کړې. د بيلګې په توګه ، زيات شمير ښځو يوناما ته ويلي چې دوي له تاوتريخوالي څخه په ډک وداکړي ژوند کې پاتې کيږي ځکه که د طلاق غوښتنه وکړي بيا د خپلو ماشومانو د پالنې څخه محرومې کيږي. دا د قانون په هکله نادرست درک وړاندې کوي.

مرکه شويو ښځو ويلي تر هغو چې د دوي قضيې تر کار لاندې وي ، د يوه خوندي پناه ځای لرل ضروري دی. پر ښځو د تاوتريخوالي د منع د قانون د ادارو لخوا هغو سرپناه وو ته چې د انجو ګانو لخوا اداره کيږي د ارجاع له لارې فزيکي ساتنه تر لاسه شوې. يوناما زيات شمير قضيې مستندې کړي(٣۴ قضيې يا د ټولو ١١٠ قضيو ٣١ سلنه) چې له دغو ساتندويه تياري ګانو څخه ګټه پورته کوي او د پناه ځايونو د پام وړ دنده ، کومه چې د ښځو لپاره يواځينی خوندي بديل وړاندې کوي ، مشخصوي. سره له دې ، ښځو په اوږدمهاله موده کې د داسې تياري ګانو محدوديتونه هم درک کړي او د خپلواکه او خوندي ژوندانه د لا زياتو ترتيباتو په اړتيا يې ټينګار کړی.

*د محکمې د قضاوت پر مهال د ښځو د تجربو په اړه ځانګړې ملاحظات*

د يوناما د مشاهدې پر بنسټ ، په جنايي سيستم کې د قضاوت له لارې عدالت د ښځو لخوا په دوامداره توګه درک شوی او د جاري کلتوري او عنعنوي نورمونو سره په مغايرت کې دی او د انفرادي مجازاتو په پرتله ډله ييز او ټولنيز پيوستون ته ترجيح ورکړل شوی.

د ١١٠ مرکه شويو ښځو د جملې څخه يو پر درييمې برخې (٣۴ ښځو) د محکمې د قضاوت په زمينه کې د تر لاسه شوي ملاتړ په اړه سراسري خپګان څرګند کړی. زياتره شکايتونه د جنايي تعقيب پر مهال پر ښځو د تاوتريخوالي د منع د قانون د ادارو د سرته رسونې يا اجراء په تړاو و. په خاص ډول ، په تشريح شويو مهمو محدوديتونو کې اداري فساد(دريو ښځو ادعا کړې چې د عامه چارواکو لخوا ترې د بډو غوښتنه شوې يا په مستقيم ډول د فساد شاهدې وې) ، د جنسي اړيکو د ټينګولو غوښتنه(په يوه قضيه کې ، د قضيې مسوول پوليس افسر د شکايت د ثبتولو په موخه د يوه وړاندې شرط په حيث د جنسي اړيکو د ټينګولو غوښتنه کړې) او د قضايي اجراآتو د مستقيم لاسرسي او درک نه شتون(۶ ښځو ويلي چې هغوي ته د محکمې د استماع په اړه اطلاع نه ده ورکړل شوې ، څلورو ښځو ويلي موږ په دې نه پوهيدلو چې پوليسو د مرکې پر مهال زموږ په دوسيو کې څه ليکلي)،شامل دي. په ځينو مواردو کې ،د ښځې يا د هغوي د کورنۍ د غړو څخه غوښتل شوي چې د يوه شکايت د درج کولو لپاره په وار وار د محکمې دفترونو ته ورشي.

د مسلکی توب نه شتون هم په رسمي توګه د هغوي د قضيو د تعقيب په برخه کې د ښځو انګېرنې په منفي توګه متاثره کړې. څلورو ښځو ويلي چې دوي په لفظي توګه توهين شوي ، ګواښل شوي چې و به نيولې شي او د تحقيقاتو پر مهال به د پوليسو او څارنوالانو لخوا د درواغو په تور ونيولې شي ، يوې ښځې وويل چې د پوليسو يوه تن کارکونکي په ښکاره توګه د هغه تاوتريخوالي لپاره چې نوموړې ور څخه متاثره شوې ، ملامته کړې. اوو ښځو راپور ورکړی چې دوي د رسمي شکايت کولو په خاطر رټل شوي يا پر ښځو د تاوتريخوالي د منع د قانون د بيلابيلو ادارو لخوا د شکايت د تعقيب په موخه په کلکه نا هيلې شوي دي. پنځو ښځو راپور ورکړی چې پر ښځو د تاوتريخوالي د منع د قانون د ادارو د کارکونکو لخوا د دوي قضيو ته پاملرنه نه ده شوې.

[٦١] د يوناما لخوا د قضيې مشاهده، ٢٠١۵ ، فبروري

د محکمو د قضاوت له لارې د قضيو په مخته بولو په برخه کې ځنډونو يا د دې قضيو د ګماني ځنډونو[٦٢] له امله يو شمير ښځې چې مرکې ورسره شوې وې ډيرې نا هيلې او بې صبره کړې دي. د قضايي اجرااتو موده د دوو شکايتونو په بيرته اخيستلو او دريو منځګړيتوبونو پای ته رسيدلې. په څه نا څه دريو قضيو کې ، ښځو ويلي هغه وخت چې دوی عدالت ته د رسيدو په موخه وقف کړی و کافی نه و او مجبورې وې خپلې کورنۍ /او د ماشومانو د پالنې دندې بيا پيل کړي. د دې په پايله کې دوو ښځو هغه سرپناه چيرې چې دوی اوسيدلې ترک کړې او د خپلو ميړونو سره يو ځای شوي او بله د منځګړيتوب د غوراوي په موخه له خپل شکايت څخه تيره شوه.

*د محکمې د قضاوت پر مهال د ښځو د تجربو په اړه ځانګړې ملاحظات*

د يوناما د مشاهدې پر بنسټ ، مرکه شويو ښځو د تاوتريخوالي عواقب ليدلي ، د بيلګې په توګه تاوتريخوالي داسې غبرګونونه درلودل چې د انفرادي مرتکبينو او قربانيانو ها خوا غزېدلي ، هغوي د داسې حل غوښتنه کوله چې موخه يې د کورنۍ او ټولنې د انډول ترميم او په ځای کول وو. په دې ترتيب ، هغوي يادونه کړې چې منځګړيتوب کولای شي داسې هيلو ته ښه ځواب ووايي. همدارنګه يو شمير ښځو راپور ورکړی چې دوی د منځګړيتوب او د محکمې د چوکاټ څخه د باندې حل لارو غوښتنه کړې ، ځکه چې د هغوي تمرکز د ناوړه سلوک څخه د مرتکبينو په راګرزولو و ، په داسې حال کې چې دوی په نظر عدلي سيستم يواځې په مجازاتو پورې محدود کېده.

د يو شمير ژمنو له امله چې د هغوي د جنسيت د ارجاع شويو دندو او مالي محدوديتونو څخه را ولاړيږي ، او د هغوي د قضيو د چټک حل په موخه د هغوي د ارجاع په شمول ، د هغو ښځينه شکايت کونکو سره د چا سره چې يوناما مرکې ترسره کړي د ځينو چاراواکو لخوا د چټکو اقدامونو ستاينه کړې. داسې ښکاري چې منځګړيتوب چټکو حل لارو او اصلاح ګانو ته لاسرسی برابروي.

د منځګړيتوب د ١٢۶ راپور شويو ناستو د جملې څخه په زياترو ناستو کې چې پر ښځو د تاوتريخوالي د منع د قانون د ادارو لخوا دايرې شوي ، انجوګانو او د شخړو د حل دوديزو حل لارو ۶۶ قضيو ته ځواب ويلی او په دې کې ښکيلو ښځو ويلي چې دوی ته د درناوي څخه ډک داسې چاپيريال برابر شوی چې د راپور ورکولو او ازادو خبرو اترو لپاره مناسب و. په ١۴ ناستو کې ، يوناما د ناوړه چلند سره د مخ شويو ښځو په وړاندې لفظي تجاوز مستند کړی. سره له دې ،د ښځو له نظره د منځګړيتوب د استازو لخوا داسې پيښې په ښه توګه تنظيم شوې چې د ښکيلو ډلو په منځ کې د اختلافونو د له منځه وړلو او د تيري څخه د پاک چاپيريال په اعاده کولو بريالي شوي. د منځګړيتوب پر مهال د کورنۍ د غړو شتون د ښځو لپاره د پام وړ يوې هڅونې په حيث درک شوی.

د شخړو د حل د دوديزو حل لارو له خوا د منځګړيتوب د ٢۵ ناستو د جملې څخه په ۶ ناستو کې ، په خاص ډول په جرګو او شوراګانو کې ، ښکيلې ښځې د پروسې څخه د باندې ساتل شوي. دغو ښځو راپور ورکړی چې هغوي د منځګړيتوب د قضايي اجرااتو څخه د هغوي د شړلو له امله نه دي په قهر شوي. خو بيا هم ، په داسې قضايي اجرااتو کې د هغوي نه شتون د بشري حقونو انديښنې را پورته کوي ځکه چې دا يو تبعيض لرونکی فعاليت دی ، د قانون په وړاندې د ښځو د حقونو د برابرۍ مخه نيسي او په هغو قضايي اجرااتو کې د پام وړ ګډون مخه نيسي چې د دوی ژوند متاثره کوي.[٦٣] دا چارې د نا دولتي ادارو په شمول

[٦٢] په يو شمير هغو قضيو کې چې نظارت يې يوناما کړی ، که څه هم د ثبت څخه بيا تر قضاوت پورې د قضيو موده د هغو حقوقي اصطلاح ګانو سره په سمون کې وه کوم چې د قانون لخوا تشريح شوي ، د ښځو انګرنې او اړتياوې د دغو حقوقي زماني چوکاټونو سره سمون نه لري. په ختيځه سيمه کې د بيلګې په توګه ، د محکمې د پريکړې د يوې مياشتې انتظار نه وروسته ، يوې ژغورل شوي ښځې پريکړه وکړه چې خپل شکايت بيرته واخلي ځکه چې د هغې مالي سرچينې خلاصې شوي.

[٦٣] دا حقونه په نړيوالو او داخلی معيارونو کې خوندي شوي. د بشري حقونو د نړيوالي اعلاميې ٢ ، ١٠ ، او ١٩ مادې ، د مدني او سياسي حقونو په اړه د نړيوال ميثاق ١۶ ، ١٩ او ٢۶ مادې ، د ښځو په وړاندې د تبعيض د ټولو بڼو د له منځه وړلو په هکله د کنوانسيون ١ او ١۵ مادې ، د افغانستان د اساسي قانون ٢٢ ماده په ګډون.

د یو شمیر فعالینو لخوا ترسره شوي ، د هغو ادارو لپاره چې د منځګړیتوب چارې پر مخ بیايي د نظارت او حساب ورکونې د رسمي میکانیزمونو نه شتون د ژغورل شویو ښځو د بشری حقونو لپاره کمزورې ساتنې برابروي.

د مرکو پر بنسټ ، هغه ښځې چې د تاوتریخوالي څخه متاثره شوې ښکاري د داسې عدالت غوښتنه کوي چې د لاسرسې وړ وي ،د وقار څخه ډک وي ، د جنډر په لحاظ حساس او په کلتوري لحاظ د منل شوي سیستم له لارې وړاندې شي او هغوي ته د هغوي د بشري حقونو او د موجوده حقوقي انتخابونو په اړه معلومات ورکړي او همدارنګه په چټکۍ سره پایلې وړاندې کړي.

*د قضیې د ښځینه/نارینه مسوولو افسرانو او منځګړیتوب له خوا د چلند په اړه د ښځو تجربې*

> *"زما سره د نارینه څارنوال لخوا ښه چلند وشو او ما ته یې د خپل وضعیت د بشپړ څرګندولو لپاره یو فرصت راکړ."*
> **ب ، عمر ۳۴ ، د هرات د ولایت څخه ، د ۲۰۱۴ کال ، اکتوبر**
>
> *"زه د ښځو د چارو په ریاست کې د ثبت د پروسې د کیفیت په اړه چې د یوې ښځینه کارکونکې لخوا ترسره شوه بشپړ قناعت لرم. زما سره یې په بشپړ درناوي او درنښت چلند وکړ ، ما ته یې د خپلې مسلې په بشپړه توګه د څرګندولو لپاره یو فرصت راکړ. ما ته یې د پروسې او راتلونکو اقداماتو په اړه یقیني معلومات راکړل."*
> **ج ، عمر ۲۵ کاله ، د بغلان د ولایت څخه ، ۲۰۱۵ کال ، جنوري**

کله چې د ادارو د ښځینه کارکونکو ، انجوګانو یا د شخړو د حل د دودیزو میکانیزمونو لخوا پکې ګډون شوی وي ، (د بیلګې په توګه ، د ښځو شورا ګانو) زیاترو مرکه شویو ښځو ویلي چې د ملاتړ او د ترلاسه شوي حساس غبرګون ستاینه کوي. تصدیق شوې چې د ښځو شتون په وار وار ښځینه ژغورل شویو کسانو ته زیات اعتماد ورکړی. په یو څو مواردو کې ، مرکه شویو ښځو د ملاتړ او د یو شمیر ادارو د ښځینه کار کونکو د "پام وړ" غبرګونونو په خاطر خپلې ستاینې څرګندې کړي. په دې کې لاندې مثالونه شامل دي ، د ښځو د چارو د ریاست د یوه غړي لخوا د یوه ښوونځې په انګړ کې د یوې نجلۍ سره مرکه څو د هغې اړتیاوې معلومې کړي او یوه ښځینه څارنواله په روغتون کې د یوه ژغورل شوي شخص څخه لیدنه کوي چې د هغې د روغتیا پوښتنه وکړي.

یوناما یادونه کوي چې د ښځو د قناعت کچه یوازې د جنډر د خدمتونو د برابرونکو سره نه ده تړلې. ښځو د هغوي د قضیو د بررسي په برخه کې د قضیې د مسوولو افسرانو/ منځګړیتوب کونکو مهارت ته او په هغوي باندې اعتماد ته مساوي اهمیت ورکړی ، پرته له دې چې د هغوي جنډر په پام کې ونیسي. د بیلګې په توګه ، په ۶ مواردو کې ، د ښځینه څاراوالانو او د ښځو د چارو د ریاست د کارکونکو غیر مسلکي چلند په منفي توګه د ښکیلو ښځو وضعیت متاثره کړی چې لفظي شخړه او کمزوری مدیریت/تعقیب په کې شامل دي. که څه هم چې په ۱۰ مواردو کې ښځینه شکایت کونکو د نا راحتي او شرم احساس کړی چې کله د نارینه وو له خوا د داسې حساسو مسالو په اړه د دوي سره مرکې کیږي (په نهو مواردو کې پر ښځو د تاوتریخوالي د منع د قانون د ادارو د نارینه وو غړو او د شورا د یوه غړي په شمول) ، په اکثریت مواردو کې ، د لایقو او وړ اشخاصو شتون د هغو ښځو لپاره چې غواړي په ازاد ډول ځانونه څرګند کړي او سرغړونې راپور کړي د پام وړ کومه مانع نه را منځ ته کوي.

ښځو په مکرر ډول د هغو منځګړو په هکله خوک چې د ښه شهرت څخه برخمن او د اعتماد وړ وي خپل رضایت څرګند کړی (د بیلګې په توګه ، د تره زوی) ، باصلاحیته وګڼل شي(د بیلګې په توګه ، د علماوو شورا) او د دې په نظر کې نیولو پرته چې هغوي

نارینه او یا ښځې وی ، په درنښت عمل کړی. یوناما مستنده کړې چې د مطرح منځګړو ۴۰ سلنه[٦٤] هغه ښځې وې کومې چې پر ښځو د تاوتریخوالي د منع د قانون د ادارو ، د بیلګې په توګه ، د کورنیو چارو د وزارت د کورنۍ د غبرګون د واحدونو ، د ښځو د چارو د ریاستونو او څارنوالانو خوا په دندو ګمارل شوي. د یو لړ استثناوو په درلودلو سره ، د بیلګې په توګه ، (د ښځو شوراګانې ، د ولایتي شوراګانو ښځینه غړي)، ښکاري چې منځګړیتوب د شخړو د حل دودیزې حل لارې په حیث د نارینه وو د عمل او فکر ساحه پاتې شوې.

**څلورم ګراف: د جنسیت پر بنسټ د منځګړو تفکیک**




د یوناما موندنې د حکومت هغه اړتیا څرګندوي چې موخه یې پ ښځو پ د تاوتریخوالي د منع د قانون په ټولو ادارو کې د دغو ادارو د ټولو - ښځینه او نارینه کارکونکو د منظمو روزنو له لارې د لا زیاتو مسلکي ښځو د استخدام د چارو یو ځای کول دي چې په دې توګه د هغوی موسساتي ظرفیت لوړ او د تاوتریخوالي څخه د ژغورل شویو کسانو سره په مسلکي توګه ، په درنښت ، دحساسیت په پام کې نیولو او درناوي سره چلند وشي. یوناما تاکید کوي څو ډاډ حاصل شي چې کارکونکي مسلکي او د جنډر په لحاظ حساس وي ، دا به په داسې ادارو کې د لا زیات اعتماد د را منځ ته کولو د مسلې او همدارنګه د ښځې په وړاندې د تاوتریخوالي د ارتکاب د پیښو د راپور کولو په برخه کې مرسته وکړي.

[٦٤] یوناما ۷۳ نارینه منځګړي او ۴۸ ښځینه منځګړي پیژندلي. د څه نا څه ۲۶ منځګړو د جندر په اړه اضافي معلومات موجود نه وو.

## ٤.٦ د ښځو د قضیو د پایلو په اړه د هغوي لرلیدونه

*"زه نه غواړم جلا شم یا طلاق واخلم. زه یوازې غواړم خپلې ستونزې په ښه ډول هوارې کړم. یوائنی مهم لامل زما ماشومان دي. که زه چیرې طلاق شم نو زما ماشومان به یوه ناوړه راتلونکې ولري او زما میړه به بله ښځه وکړي. زه نه شم کولای خپل ماشومان په دې وضعیت کې پرېږدم چې بیا هغوي د خپلې میرې سره ژوند وکړي."*

**س ، عمر ۲۵ کاله ، د بدخشان د ولایت څخه ،۲۰۱۵ کال ،جنوري**

*"زه د محکمې په هغه پریکړه چې زما پلار یې بندي کړ په رښتیا خوشاله یم ، خو زه د شپږو میاشتې مودې حبس په اړه خوشاله نه یم. زه غواړم چې زما پلار د محکمې لخوا په اعدام محکوم شي."*

**ف ، عمر ۱۹ کاله ، د فاریاب د ولایت څخه ، ۲۰۱۵ کال ، فبروري**

*د قضاوت له لارې د حکمونو تر لاسه کول*

یوناما د هغو ۱۰ ښځو لخوا د چا قضیې چې د محکمې لخوا حل و فصل شوي بیلابیل غبرګونونه مستند کړي. په دریو قضیو کې په کومو کې چې د اوږد مهاله او منځ مهاله حبس[٦٥] حکم شامل و ، پینځو ښځو د پایلې په اړه رضایت ښودلی. په پینځو نورو مواردو کې ، د مرکه شویو ښځو له نظره ترسره شوي مجازات ډیر خفیف وو (جریمې یا لنډ مهاله حبس). دوه ژغورل شوې ښځې په دې نظر وې چې د هغوي په قضیه کې د اعدام مجازات مناسب مجازات دي- که څه هم چې دا په قانوني لحاظ د هغو جرمونو لپاره چې دوي ترې متاثره شوي ، د اجرا وړ نه دي.

زیات شمیر ښځې چې د قضاوت غوښتنه کړې د مرتکبینو په نیولو ټینګار کړی. ښځو د قانون د پلې کونکو او قضایي چارواکو لخوا د هغو حقوقي تدبیرونو(د نیولو حمکونه) د پر وخت پلي کولو په برخه کې د پاتې راتللو او همدارنګه د هغه ډار په اړه چې په جنایي عدلي سیستم باندې په منفي توګه د هغوي اعتماد متاثره کوي ، نا امیدی ښکاره کړې. زیات شمیر مرکه شویو ښځو د پراخ اداري فساد مسله مطرح کړې او ادعا یې کړې چې د قانون د انفاذ د موسسو افسرانو د شکایتونو د ثبت کولو په موخه د یوه وړاندې شرط په حیث د بډو غوښتنه کړې.

*د منځګړیتوب له لارې ترلاسه شوې پریکړې*

د مرکه شویو ښځو زیات شمیر چې قضیې یې د منځګړیتوب له لارې حل او فصل شوي دي څرګنده کړې ده چې په تر سره شویو پریکړو کې د دوي هیلې منعکسې شوې دي.

یوناما داسې بیلګې مستندې کړې دي چې په هغو کې د ځواک محرکې ، په مستقیم او یا غیر مستقیم ډول سره ، د ښځو دا ځواکمنتیا چې وکولای شي په خپلواک ډول سره د منځګړیتوب شرطونه ومنی په منفي توګه اغیزمنه کړې ده. د ۱۳ قضیو په پریکړو کې شاملې ښځې په دې باور وې چې دغه پریکړې پر دوي باندې په مستقیم ډول یا خو د کورنۍ د یوه غړي او یا هم پخپله د منځګړو له خوا تحمیل شوي دي(په ۶ قضیو کې د شخړو د حل د دودیزو لارو چارو له لارې ، ۶ قضیو کې پر ښځو د تاوتریخوالي د منع د قانون د ادارو له خوا او په یوه قضیه کې د غیر دولتي موسسې له خوا منځګړیتوب شوی دی). همدارنګه د ماشومانو د حضانت له لاسه ورکول او د بې وزلۍ په اړوند ډار هغه غیر مستقیم لاملونه دي چې په پرلپسې ډول د مرکو پر مهال

[٦٥] د اوږد مهاله ، منځ مهاله او لنډ مهاله حبس په شمول د جرمونو لپاره د جزا اصطلاح ګانې د جزا د قانون د ۹۷ څخه تر ۱۰۴ مادو کې تعریف شوې

رابرسیره شوي او د ښځو پریکړې یې اغیزمنې کړي تر څو د خپل خاوند سره بیرته یو ځاي شی حتی که دا په دې مانا هم وي چې دغه اړیکي د ځورونې سره یوځای دي.

ګڼ شمیر مرکه شویو ښځو د منځګړیتوب له لارې د ترسره شویو پریکړو د پلي کولو په اړوند خپل شک او تردید ښکاره کړی دی ځکه چې دغو پریکړو هیڅ ډول حقوقي الزامات نه درلودل. دوي د منځګړو دغه شرط ستایلي چې پریکړې باید په لیکل شوي ډول سره په ضمانت لیکونو کې درج شي نه دا چې یوازې په خوله باندې موافقه پرې وشي او همدارنګه دوي خپل ملاتړ پر ښځو د تاوتریخوالي د منع د قانون په ادارو کې د دغه ضمانت لیکونو د یوې کاپي د ثبتولو او ساتلو له امله څرګند کړی دی. خو د دې برسیره ، دغه کړنه په یو شمیر محدودو مطالعه شویو قضیو کې تر سره شوې ده. د لا زیات تاوتریخوالي د مخنیوي په خاطر ، په ضمانت لیکونو کې یو لړ ځانګړي حکمونه درج شوي دي چې که د تاوتریخوالي عامل په راتلونکي کې بیا د قرباني شوي شخص په وړاندې تاوتریخوالي ته ادامه ورکړي د هغه/هغي قضیه به جنایی عدلي تعقیب ته راجع شي. که څه هم ، د قضیو د تعقیبولو میکانیزمونه لږ رامنځته شوي وو ، خو د درناوي وړ کسانو شتون (د ساري په ډول محلی مشران) او په ځینو ټرونونو کې د شاهدانو د لاس لیک اخیستل چې له نږدې څخه څارنه او د ژمنو ممکنه تطبیق تضمینوي د ژغورل شوو ښځو د خوښۍ لامل شوی دی.

ګڼ شمیر مرکه شویو ښځو ویلي دي چې کوم عدالت چې د محکمو د پریکړو پر بنسټ او یا د منځګړیتوب له لارې له دوي سره شوی دي د دوي د قضیو د حل یوه برخه جوړوي او یادونه یې وکړه چې لازمه وه د ځورونې په اړیکو کې د پاتې کېدو سره دغه پریکړې د اغیزمنو بدیلونو سره یو ځای واي او په ټولنه کې د دوي د بیا ادغام سره مرسته کړي واي. د ساري په ډول ، په دغه بدیلونو کې ، د کارموندنې له لارې د ښځو اقتصادي ځواکمنتیا ، پرځان د بسیا کیدنې پروګرامونه ، د سرپناه او ځاي برابرول او د پوهاوي پروګرامونه چې د هغو ښځو په وړاندي چې یوازې ژوند کوي د شرم او عیب ذهنیت له منځه یوسی ، شامل واي.

### ۶. ۵ د نړیوالو اصولو سره د محکمو د قضاوت د پریکړو او د منځګړیتوب د کړنو مطابقت

یوناما د منل شویو بشري حقونو د معیارونو او د منځګړیتوب د اصولو په اړوند په افغانستان کې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي په قضیو کې د منځګړیتوب او قضایی پریکړو په اوسنیو کړنو کې ځواکمنتیاوې او تشې موندلې دي. په ځانګړې ډول:

<u>د پروسې حقوقي بنسټ:</u> د افغانستان قوانین په ضمنې ډول سره د جنایي عدالت لپاره د بدیل په توګه ، د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي په قضیو کې منځګړیتوب ته لار پرې ایښې ده ، خو جنایی ځانګړې قضیې باید په استثنایی ډول د عدلي سیسټم له لارې حل او فصل شي.[٦٦] یوناما موندلې چې بدلمنې ته د مجبورولو د هرو ۵ قضیو څخه ۴ قضیې او د اجباری ځان سوځونې او یا د ځان وژنې د عمل ۳ قضیې[٦٧] د جنایی عدلي تعقیب له لارې ، د ۳ قضیو په ګډون چې د افغانستان د قوانینو پر بنسټ د رامنځته شویو دیوانونو له لارې ور باندې قضایي پریکړې شوي ،[٦٨] مخته بوول شوې دي. په همدې ډول ، د یوې اجباری بدلمنې

---

[٦٦] ۶ لمن لیک وګورئ.

[٦٧] درې قضیې تر دوران لاندې دي چې په یوه قضیه کې ښځه د خپل شکایت څخه منصرفه شوې او یوه بله قضیه د منځګړیتوب له لارې حل او فصل شوې ده.

[٦٨] د دې څېړنې څخه بهر د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي څخه د یوناما منظمې څارنې ښودلې چې په دې اړوند چې کومې قضیې باید د منځګړیتوب له لاري حل او فصل شي او کومې قضیې باید د ښځې په علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون د احکامو پر بنسټ جزایی تعقیب ته ارجاع شي یو عمومي ناسم پوهاوي شتون لري. د کندهار په ولایت کې د ۲۰۱۴ کال د جنوري د میاشتي څخه بیا د ۲۰۱۵ کال د فبروري تر میاشتي پوري لیدل شویدي چې هغه ځانګړي جرمونه چې باید د جزایی عدالت له لاري تر تعقیب لاندي نیول شوي واي ، د منځګړیتوب له لاري حل او فصل شویدي چې دغه موضوع د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون د ۳۹ مادي د احکامو تېرې ګڼل کیږي. یوناما معلومات تر لاسه کړیدي چې په کندهار کې د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون ساحوي دفتر ټولټال ۴۹ جرمي قضیې د منځګړیتوب له لاري حل او فصل کړیدی په داسي حال کې چې د ښځې پر علیه د

قضيې څخه پرته د منځګړيتوب هڅې د هغو جرمونو لپاره نه کارول کيږي چې بايد د عدلي سيستم له لارې- د موجوده قانوني چوکاټ سره سم د عدلي تعقيب لاندې راشي.

رضامندي: يوناما ۱۱ داسې قضيې ثبتې کړي چې په هغو کې د منځګړيتوب د غوره کولو پريکړه پر ښځينه قربانيانو باندې تحميل شوې ده. هيڅ يوه داسې پيښه نه ده ثبت شوې چې په هغې کې ښځې اړ ايستلي شوې وي څو خپل شکايتونه د جنايي عدالت د سيستم له لارې ثبت کړي.

د منځګړيتوب په پروسه کې مساوي او فعاله برخه اخيستل: يوناما د هغو اوريدنو د پروسو په اړوند اندېښنه لري په کومو کې چې د تاوتريخوالي قربانيانو ته اجازه نه ده ورکړل شوې چې په کې برخه واخلي چې دغه کړنه د منځګړيتوب په شپږو ناستو کې او د محکمو د اوريدو په ۶ غونډو کې عملي شوي دي. که څه هم ، د موندنو څخه داسې څرګنديږي چې په عمومي ډول د منځګړيتوب په ناستو کې دواړو خواو ته په مساوي توګه اجازه ورکړ شوې چې په پروسه کې فعاله برخه واخلي ، خو يوناما مشاهده کړې چې په دغو ناستو کې داسې ميکانيزمونو شتون نه درلود چې وکولای شي د تاوتريخوالي د عاملينو او قربانيانو تر منځ د قدرت د پام وړ نابرابري تشخيص او مديريت کړي. د ساري په ډول ، منځګړو د خپل دې اختيار څخه چې بايد جلا جلا ناستې هم تر سره کړي ډير لږ کار اخيستی دی. په همدي ډول يوناما معلومات لري چې د منځګړيتوب د غونډو په موده کې پراخ توپير شتون درلود چې په يوه واحده قضيه کې د ناستو شمير د يوي څخه تر ۱۰ ناستو پورې هم دوام کړی دی.

مصؤنيت او ساتنه: د څارنې او تنفيذ د ميکانيزمونو نشتوالی چې وکولای شي د منځګړيتوب په پايله کې د شوو تړونونو پريکړې و څارې په ځانګړي ډول د اندېښنې وړ دی. ځکه چې د قضيو زياتره برخه داسې حل او فصل شوي دي چې د تاوتريخوالي څخه ژغورل شوې ښځه بيرته د تاوتريخوالي د عامل سره يوځای شوې څو د کورنۍ اساس او ټولنيز نظم وساتل شي ، چې په دې ډول کيدای شي ښځې د لا زيات تاوتريخوالي سره مخامخې شي او همدارنګه د ناوړه چلند (او يا هم د ناوړه چلند د ګواښ) بايد له پامه و نه غورځول شي. د قضايي اجرااتو او د منځګړيتوب د پروسو پر مهال د شکايت کوونکي مصؤنيت او ساتنه ، په ځانګړي ډول ، د پريکړې د تعقيبولو پر مهال د منځګړيتوب د موسسې له خوا د ځانګړې رسيدګې او د قانون د تنفيذ د ادارو او د ټولنيزو خدماتو برابرونکو تر منځ د ممکنه همکارۍ غوښتنه کوي. د يوناما د معلوماتو پر بنسټ ، د ساتنې يواځنی ميکانيزم چې د محکمو د نهايي پريکړې پر مهال کارول شوی دی ، د امن خونو ته ارجاع کول وو. په يوه قضيه کې د تاوتريخوالي قرباني ښځې د خپل ځان او ماشومانو د ساتنې په اړوند هغه مهال شکايت درج کړ چې ميړه يې د يوې مياشتې بند څخه وروسته خوشې شو.

بې پرېتوب: د ښځو هغه شکايتونه چې يوناما مستند کړي دا روښانه کوي چې څنګه منځګړو د دواړو خواوو سره د مرستې کولو پر مهال تر کومه بريده لږ بې پريتوب ساتلی دی څو داسې پريکړه چې ددواړو خواوو قناعت برابروي تر لاسه شي. د دې پر ځای په زياترو برخو کې منځګړو په فعاله توګه په بحثونو کې برخه اخيستې ده چې يو وار يې د تاوتريخوالي د عاملينو د وړانديز شويو حل لارو څخه ملاتړ کړی او بل وار يې د تاوتريخوالي د قرباني شوي کس د ګټو دفاع کړې څو د دواړو خواوو تر منځ د ځواک موجوده نابرابري ته رسيدنه ولري. د منځګړو د ټاکنو تګلاره چې د منځګړيتوب د پايلو څخه مادي او ټولنيزې ګټې تر لاسه کوي ، کولای شي د قضيې په حل کې د دوي بې پرېتوب اغيزمن کړي. په ۱۲ قضيو کې ښځو يوناما ته ويلي چې هغه دولتی کار کوونکي چې د دوي د قضيو منځګړيتوب يې کړی دي ، د شخصی ګټو پر بنسټ (د ساري په ډول د تاوتريخوالي د عاملينو سره د اړيکو په خاطر) او يا هم د اداري فساد له امله خپل بې پرېتوب نه دی ساتلی چې د جزايي عدالت د سيستم په اړوند اندېښنې را

تاوتريخوالی منع د قانون د ۲۱ مادې پر بنسټ (ځان سوځني او يا ځان وژني ته مجبورول) جرم ګڼل کيږي. په همدې ډول کندهار ولايت د ښځو د چارو رياست بدلمنۍ ته د اجبار اته قضيې (د ښځې پر عليه د تاوتريخوالي د منع د قانون ۱۷ ماده) د منځګړيتوب له لارې حل او فصل کړيدي.

برسیره کوي. د دې په پایله کې ښځو راپور ور کړی چې دغو چارواکو د منځګړیتوب پر مهال پر دوي باندې غیر ضروري فشار راوستی چې د دوي د قضیې جریان یې اغیزمن کړی دی.

<u>تخصص</u>: د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د قضیو پیچلتیا او حساسیت د قضیې په اړوند داسې ښو روزل شویو او ماهرو افسرانو ته اړتیا لري چې وکولای شي قرباني شویو ښځو ته رسیدګي وکړي او د عدالت د تر لاسه کولو په پروسه کې دوي رهنمایي کړي. د داسې قضیو مدیریت ځانګړي مهارتونه غواړي چې د پوهني او روزني څخه پرته سمدستی نشي تر لاسه کیداي. د یوناما د معلوماتو پر بنسټ ، په ټول افغانستان کې د ښځو د قضیو د ثبت کولو او همدارنګه د قانون د تنفیذ نهادونو او قضایی ادارو ته د تاوتریخوالي له امله د ژغورل شویو ښځو د قضیو ارجاع کولو په اړوند د زده کړي یو شمیر ناستي تر سره شوي دي. هغه غیر دولتي موسسې/ انجوګانی چې د امن خونو مدیریت په غاړه لري خپلو کارکوونکو ته د جنډر د حساسیت لرونکي منځګړیتوب په هکله روزنه ورکوي. سره له دې هم ، د خدمتونو د برابرونکو د ظرفیت د جوړولو هڅې ډیرې محدودې دي. د مرکه شویو ښځو د وینا پر بنسټ د قضیو د موظفو کارکوونکو کړنې د یو بل سره ډیر توپیر لري چې دا پخپله پر ښځو د تاوتریخوالي د منع د قانون د موسسو د کارکونکو د تخصص د پیاوړي کولو اړتیا را برسیره کوي کومې چې د ښځینه شکایت کوونکو سره کار کوي.

د ښځو د تجربو پر بنسټ ، د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د قضیو د حل لپاره د شخړو د حلولو د دودیزو لارو چارو د میکانیزمونو څخه کار اخیستل ، د منځګړیتوب لپاره له مخکې د رسمی روزنې نشتوالي او همدارنګه د حساب ورکولو د میکانیزمونو د نه موجودیت د پیښو په پام کې نیولو سره ، کیداي شي د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي د کړنو د پراخ معافیت لامل وګرځي چې د لږ عدالت او یا هم د نه عدالت سبب شي.

<u>د حقونو پر بنسټ پایلې</u>: د یوناما مشاهده د ۱۰ محکمو د نهایی فیصلو مطالعه شوې پایلې ښې چې پر ښځو د تاوتریخوالي د منع د قانون پر بنسټ مجازات په نابرابر ډول سره عملي شوي دي. د منځګړیتوب له لارې د تر لاسه شویو تړونونو په اړوند د شفاهی تړونونو او همدارنګه په سیستماتیک ډول د داسې مقرراتو نشتوالي چې د قضیو د نظارت کولو پر مهال د افرادو او موسسو مسؤلیتونه په ګوته کړي ، اندیښنې رامنځته کړي دي. په ځینو قضیو کې ښځې په رضایت سره پریکړې نه دي منلي چې بیا وروسته پر ښځو باندې تحمیل شوي دي.

## ۷. کلیدي ننګوني

### ۷. ۱. په اوسني حقوقي چوکاټ کې تشې

اساساً د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د قضیو شکایتونه پر ښځو د تاوتریخوالي د قانون پر بنسټ څېړل کیږې چې پرته له دې چې د تاوتریخوالي قرباني شویو کسانو ته کومې اضافي حقوقي خساره ورکړي ، یوازې د مجازاتو پر پلي کولو باندې متمرکز دي. د یوناما څیړنې ښودلې چې که څه هم د قضیو عدلي تعقیب یو شمیر ښځو ته چې د تاوتریخوالي قرباني شوي دي خساره ورکوي ، خو دا هیڅکله هم کافي نه ده چې وکولای شي په پراخه پیمانه د ښځو اړتیا ته ځواب و وایي ملاتړ یې وکړي او رسیدګي یې وکړي.

د دې لپاره چې هغو ښځو ته چې د تاوتریخوالي سره مخ شوي خساره تقویه شي ، د ساري په ډول ، د تاوتریخوالي د مخنیوی او د ساتنې لپاره امرونه ډیر ضروري دي ځکه چې دا کولای شي د تاوتریخوالي د عامل په مقابل کې د ښځو حقوقي تحفظ پیاوړي کړي. د ساري په ډول ، داسې امرونه کولای شي دوي ته د هغې د خسر په کور کې د اوسیدو حق ورکړي چې په دې توګه ښځې ته

په خپل کور کې مصوونه سرپناه برابروي. که چیري مرتکب یا عامل د حکم څخه سرغړونه وکړي نو باید چې پرې مجازات /جنایي مجازات پلي شي.

په موجوده قانون کې هیڅ داسې واضح حکم نه تر سترګو کیږي چې پلار په دې مکلف کوي څو د هغو ماشومانو نفقه ورکړي چې د خپلې مور تر حضانت لاندې دي ، په ځانګړې ډول ، کله چې مور د کور څخه بهر کار نه کوي. په داسې وضعیت کې چې د ماشومانو پلار د خپلو اولادونو نفقه نه ورکوي ، جلا شوې او یا طلاق شوې ښځې مجبورې دي چې د خپلی کورنې ملاتړ ته مخه کړي چې دا د کورنۍ په موجودو کمو سرچینو باندې بل اضافي پیټی دی. همدارنګه دا ممکنه ده چې دغه مساله د دې لامل هم شي چې د اولادونو حضانت پلار ته وسپارل شي ځکه چې زیاتره میندې نه شي کولای په اقتصادي ډول دخپلو ماشومانو اړتیاوې برابرې کړي. یوه طلاق شوې ښځه د خپل پلار او ورور لپاره مالی مسؤلیت ګرځي او دوي دا ښه ګڼي چې دوي باید د دوهم ځل لپاره واده وکړي. په دا ډول حالاتو کې په سیستماتیک ډول اولادونه د دوي پلار ته سپارل کیږي ځکه چې دا ډیره سخته ده چې طلاق شوې ښځې ته چې ماشومان ولري ، د واده مرکه کوونکي وموندل شي. د یادونې وړ ده چې د افغانستان د قانون پر بنسټ ښځه د خپل پلار او همدارنګه د خپل خاوند[٦٩] په جایداد کې مشروع حق لري ، خو په حقیقت کې ، که چیري دوي طلاق نه شي ، د دوي لږ شمیر یې خپل حق تر لاسه کوي.

د " زنا" په تور د عدلي تعقیب څخه ډار د ښځو د خوځښت د آزادۍ حق او همدارنګه د انتخاب کولو حق چې د هغه پر بنسټ وکولای شي د تاوتریخوالي څخه د ډک ژوند رابطې ته د پای ټکي کښیږدي ، په کلکه محدودوي. کومې ښځې چې هڅه کوي د تاوتریخوالي څخه د ډکو وادګنۍ اړیکو ته خاتمه ورکړي او یوازې ژوند وکړي هم د ورته ګواښونو سره مخامخ کیږي. د " زنا" او یا د ؛زنا په هڅه ؛[٧٠] د ښځو او نجونو پر له پسی عدلی تعقیب د نړیوالو بشری حقونو د معیارونو او قضاوت[٧١] څخه سرغړونه ده او یوه بله جدي حقوقي تشه جوړوي چې په پایله کې یې ښځې اړې کیږي چې د تاوتریخوالي او ځورونې څخه ډک چاپیریال و زغمي.

## ۲.۷ د منځګړیتوب د معیاري طرزالعملونو نشتوالی

څرنګه چې د یوناما د ساحوي ارزونې له لارې په واضح ډول سره ښودل شوي ، منځګړیتوب د بیلابیلو فعالینو له خوا تر سره شوی دی چې هر یوه یې خپلې ونډې او مسؤلیتونه په جلا ډول سره تعبیر/ترسره کړي دي او د ښځو د ساتنی لپاره حقوقي ضمانتونه یې په مختلفو طریقو سره پلی کړي دي. یوناما د ورته قضیو په رسیدګي کې په پراخ ډول بیلابیلې تګلارې ، د هغوي د

[٦٩] د افغانستان په مدني قانون کې د ملکیت د کسبولو سببونه: ۲۰۰۷ ماده (۲)ښځه که څه هم په رجعي طلاق طلاقه شوي وي په هغې صورت کښې چې میړه د هغې د عدت په دوام کښې مړ شي یا ښځې که میړه اولاد یا د زوي اولاد که څه هم مرتبې یې ټیټې وي و نه لري د میراث څلورمه حصه او که اولاد یا د زوي اولاد موجود وو که څه هم مرتبې یې ټیټې وي ، نو د میراث د اتمې حصې مستحق کیږي. ۲۰۰۸ ماده: د دې قانون د (۲۰۱۹) مادې د درج شوي حکم په مراعت کولو سره ، لور ګانې په لاندې ډول د میراث مستحق دي:

۱- یوه لور نیمایي ، دوه یا د هغې څخه زیاتې د میراث د دوه ثلثو مستحق کیږي.

۲- د زوي لور ګانې عام له دې چې یوه وي یا تر هغې زیاتې که میړې لور یا د زوي لور چې د درجې د حیثه د دوي څخه پورته وي ، و نلري ، نو د پورتنې فقرې د درج شوي میراث مستحق کیږي په هغې صورت کښې چې لور موجوده شي یا د زوي داسې لور موجوده شي چې په درجې کښې د هغې پورته وي نو د زوي لورګانې د شپږمې حصې مستحق کیږي.

۲۰۰۹ ماده: د دې قانون د (۲۰۱۹ او ۲۰۲۰) مادو د درج شوو حکمونو په مراعت کولو سره ګکنې خویندې په لاندې ډول د میراث مستحقې دي:

۱- یوه ګکنې خور نیمایی او دوه یا زیاتې ګکنې خویندې د میراث د دوه ثلثو مستحقې دي.

۲- که څوک ګکنې خویندې و نه لري نو پلارنې خویندې د پورتنې فقرې درج شوې حصې او که ورسره یوه مورنۍ خور موجوده شوه د میراث د شپږې حصې مستحقې کیږي. عام له دې چې پلارنې خویندې یوه وي او که تر هغې زیاتې.

[٧٠] د افغانستان د جزا قانون ۴۲۷ مادې (۱) فقره داسې وایې: که شخص د مؤنث سره زنا یا لواطت یا د نر سره لواطت وکړي د حالونو سره سم په اوږده حبس محکومیږي. ۲۹ ماده (۱) فقره داسې بیان کوي: په جرم شروع د فعل د پیل کیدو د اجرا کولو څخه د جنایت یا جنحې د ارتکاب په قصد عبارت دی په دې ترتیب چې د فاعل د ارادې نه د باندې د ځینو سببونو له امله د هغې اثرونه متوقف یا خنثی شوي وی.

[٧١] د بشري حقونو نړیوال معیارونه داسې تصریح کوي چې زنا باید د یوه جرمي عمل په ډول تلقي نشي ځکه کیداې شي دغه کار د هغو ځوانانو د محرمیت د حق څخه تېرې وي چې غواړي په خپل رضایت سره جنسي اړیکه ولري ، چې د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال کنوانسیون د ۱۷ مادې نقض دی چې افغانستان هم د دغه کنوانسیون غړیتوب لري.

ثبتولو کړنې[۷۲] ، پايلې او د بيا تعقيبولو ميکانيزمونه مستند کړي دي. چې په پايله کې ليدل شوي چې د منځګړيتوب پروسه په اختياری ډول تر سره شوي او د يو ې خوا سره په بالقوه ډول غيرمنصفانه چلند شوی دی. د هر ډول معياری طرزالعملونو نشتوالی د دې لامل ګرځيدلي چې د ښځو د ځينو اساسي حقونو څخه سرغړونه وشي. لکه چې يې يادونه و شوه ، په ځينو قضيو کې ښځو ته اجازه نه ده ورکړل شوې چې د منځګړيتوب په ناستو کې برخه واخلي ، اجبار پرې راغلی چې خپلې قضيې د منځګړيتوب له لارې حل کړي او تحميل شوې پريکړې ومني.

د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي د قضيو د منځګړيتوب په اړوند د متوازنو طرزالعملونو را منځته کول کيداي شي د بشري حقونو د معيارونو او د منځګريتوب د اصولو سره موافقت او ورته والی ته ارتقاء ورکړي. هغه شرايط چې په تړونونو کې وضع کيږي بايد د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي پديده په کلکه وغندي او د حل طرح شوې لارې بايد منصفانه ، خوندي ، ارادي ، محرمې ، د هر ډول ډار او تبيعض څخه خلاصې وي او د شاملو خواوو د حقونو او وقار بشپړ درناوی وکړي. د منځګړيتوب د پروسې لپاره د حد اقل مودې ټاکل (د ساري په ډول ، د حد اقل ناستو د شمير مشخصول) د دې ضمانت کوي چې دواړه خواوې په بشپړ ډول د تړون په شرايطو باندې پوه شوي دي او يوې تحميل شوې پريکړې ته بيره نه ده شوې.

## ۳.۷ د قضيو د منځګړيتوب د فعالينو نامتوازنه روزنه

دا يو منلی حقيقت دی چې په افغانستان کې– سربيره پر دې چې ملي او نړيوالو برخه والو د روزنې په اړه هڅې کړي دي ، لږ شمير منځګړي روزل شوي دي چې د بې پرېتوب په مسلو اګاه وي او وکولاې شي پر ښځو د تاوتريخوالي د قضيو پيچلتيا اداره کړي. يوناما موندلې چې د قضيو د منځګړيتوب په پروسه کې د نامتوازن قدرت اداره کول ځانګړي تخصص ته اړتيا لري چې له زده کړې پرته او سم دستی نه تر لاسه کيږي. د قرباني شوې ښځې هغه حق چې وکولاې شي پرته له غير ضروری فشار ، ګواښ او اجبار څخه خپل د خوښې وړ انتخاب اختيار کړي ، بايد د قرباني ښځې سره د څو پرلپسې ناستو له لارې تحليل شي او په عين حال کې له نږدې څخه هغه مستقيم او غيرمستقيم لاملونه په دقت سره وارزول شي کوم چې د هغوی پر پريکړو باندې ناوړه اغيزه کوي. د بيلا بيلو حقوقي لارو اختيارول او د ساتنی د موجودو ميکانيزمونو د ذکر او يادونې په ګډون د يو لړ پراخو معلوماتو اماده کول به يو تضمين وي چې ډاډ تر لاسه شي ښځې په خپله خوښه او ارادې سره د عدلي قضايي او يا د منځګړيتوب په پروسو کې برخه اخلي.

د يوناما موندنې ښکاره کړې چې په يوه منفرده قضيه کې منځګړو بيلابيلې تګلارې پلي کړي دي. د ساري په ډول ، په ځينو قضيو کې ليدل شوي چې منځګړي د پلار ساري دوديزو نورمو او رواجونو څخه کار اخيستی او په دې خاطر چې ښځې مطيع وګرځوي او د دوي په وړاندې تاويخوالي ته دايمي بڼه ورکړي ، مذهبی احکام يې تحريف او ناسم تعبير کړي دي چې د دوي قانوني حقونه يې تر پښو لاندې کړي دي. خو په ځينو نورو قضيو کې منځګړو خپل نقش د دواړو خواوو ، په ځانګړي ډول ، د ښځو د حقونو او وقار په بشپړ درناوي سره تر سره کړي دي.

يوناما د نړيوالو نورمونو او معيارونو پر بنسټ پر ښځو عليه د تاوتريخوالي د قانون د موسسو د دوامداره ظرفيت رامنځته کولو په اهميت باندې ټينګار کوي چې يو زيات شمير منځګړي – دواړه نارينه او ښځينه – وروزل شي او د يوې با صلاحيته ادارې له خوا تاييد شي.

[۷۲] د ښځې پرعليه د تاوتريخوالي د منع قانون په موسسو او په دوديزو لارو د شخړو د حل په ميکانيزمونو کې د دغو تړونونو لپاره هيڅ ډول معياري بڼې شتون نلري.

## ۴.۷ د منځګړیتوب شویو پریکړو او تړونونو د تنفیذ نشتوالی

پر ښځو د تاوتریخوالي د قانون د احکامو پر بنسټ د پریکړو تنفیذ، پرته له دې چې د محکمي د نهایی فیصلې او یا د منځګړیتوب د پروسې له لارې تر لاسه شوې، کم رنګه دي. کومې پریکړې چې په منځګړیتوب کې تر سره کیږي تل د ټولنې او یا هم د کورنیو د غړو له خوا ضمانت شوي چې دوي پریکړې وڅاري. که څه هم داسې یو حقوقي میکانیزم شتون نه لري چې که چیرې د تړون د موادو څخه تیري وشي نو ضمانت کوونکي او د تاوتریخوالي عامل به مسؤل ګڼل کیږي. زیاتره پریکړې د منځګړیتوب د موسسې په دوسیو کې پاتې کیږي او په ندرت سره په رسمي ډول ثبت او راجستر کیږي، ځکه د لازمي ثبتولو لپاره کوم رسمي حکم او یا هم اړتیا شتون نه لري.

یوناما موندلې چې پر ښځو د تاوتریخوالي د منع د قانون ادارو چې د تاوتریخوالي په قضیو کې یې منځګړیتوب کړی دی، تل د تعقیب کولو کافی میکانیزمونه نه لري چې د دواړو خواوو تر منځ د تر سره شویو تړونونو انفاذ وڅاري. یوناما ثبت کړې چې څنګه ډیر محدود او ناڅیزه بشري او مالي سرچینې د قضیو د منظمې او سمې څارنې په لار کې خنډ واقع شوي دي.[۷۳] ماتېدونکی امنیتی وضعیت د چارواکو په لار کې د دې خنډ شوی چې د هیواد لرو پرتو او یا نا امنو سیمو ته لاسرسي ولري، چې دا پخپله د انفرادي قضیو د څارلو لپاره امکانات محدودوي. د همدې پدیدې له امله په زیاتره قضیو کې دغه مسؤلیت دواړو خواوو ته سپارل شوی دی چې د نه قناعت په صورت کې دوي په خپله منځګړي کسانو ته مراجعه وکړي. داسي موندل شوې چې ډار او پر له پسی تاوتریخوالي د دې لامل شوی او د قرباني شوو ښځو امکانات یې محدود کړي څو هغوي خپلو منځګړو کسانو ته مراجعه وکړي او یا هم د بیا تر سره شوي تاوتریخوالي راپور ورکړي.

## ۵.۷ د جنایي عدالت د سیستم کمزورتیاوې

د یوناما موندنو دا څرګنده کړې چې د هغو ښځو شمېر چې غواړي د تاوتریخوالي عاملین دې د جزایي عدلي تعقیب لاندې ونیول شي شمیر یې لږ دی. د قانون د حاکمیت او د عدلي او قضایي نهادونو د محدود شتون او یا هم د دوي د قضیو په دوران او پروسه کې خنډونه هغه موانع دي چې ښځې نا هیلي کوي او دوي نه غواړي چې خپل شکایتونه د قضایی پریکړو له لارې تعقیب کړي. لکه چې پورته یاده شوه د قضایی سیستم د نه اغیزمنتوب او فساد په اړه پراخې اندیښنې د ښځو لپاره هغه کلیدي دلیلونه دي چې دوي منځګړیتوب غوره کوي.

د هیواد په کچه د حقوقي مرستو محدود شتون یوه کلیدي ننګونه ده چې عدالت ته د ښځو د لاسرسي څخه مخنیوي کوي. حتي په هغو ځایونو کې چې دا ډول مرستې د دولتي او غیر دولتی موسسو د فعالینو له خوا تر سره کیږي، ښځو ته په حتمي ډول سره د دغو لارو د انتخاب کولو لپاره، د بیسوادي او یا هم معلوماتو ته د نه لاسرسی له امله خبر نه ورکول کیږي. د امن خونې په دوامدار توګه په مستقیم ډول حقوقي مرستې چمتو کوي او یا هم د تاوتریخوالي قرباني شوې ښځې د حقوقي مرستو موسسو ته معرفی کوي.

[۷۳] د مثال په ډول، د ښځو د چارو یوه ریاست یوناما ته وویل چې له ژغورل شویو ښځو سره د اړیکي نیول وسیله تیلیفونی تماس دی، چې د نهایی پریکړې وروسته په ډیری قضیو کې د قرباني شوي ښځي د تلیفون شمیره بنده وي. په تلیفون کې د کافي کریډیت نشتوالي هم یو خنډ ویل شوي دی. د ښځو چارو د وزارت د حقوقو د ریس سره د یوناما ناسته، ۲۰ جنوري ۲۰۱۵، د پلخمري د ښځو د چارو د ریاست د حقوقو رییس سره ناسته، ۱۰ ډسمبر ۲۰۱۴، د کندهار ولایت د ښځو د چارو رییس سره ناسته، ۲۱ فبروری ۲۰۱۵، د هرات ولایت د ښځو د چارو رییس سره ناسته، ۲۰ جنوری ۲۰۱۵.

## ۷.۶ د ښځو پر پرېکړو د دودیزو او مذهبی انګېرنو/روشونو اغېزه

یوناما مشاهده کړې چې د تاوتریخوالي په قضیو کې د ښځو پریکړې په ژوره توګه د موجودو ټولنیزو- دودیزو نورمونو او معیارونو له امله اغیزمنې شوي دي. هغوي داسې ګڼي چې دوي د خپلې کورنۍ د یو ځاي ساتلو مسؤلیت په غاړه لري او تل په دې باور دي چې دوي باید په هر قیمت د خپلې کورنۍ بنسټ وساتي. د کورنۍ خبرې او مسلې د باندې ایستل د یو ناوړه عادت په ډول ګڼل شوي او ښځې تل هڅول شوي چې د کورني تاوتریخوالي په اړوند خبرې و نه کړي. څرنګه چې برلاسه ټولنیز — دودیز معیارونه ښځې د کورنۍ لپاره مسؤلې ګرځولي نو ځکه ښځې ته د کورنۍ د ستونزو د لامل په سترګو کتل کیږي. زیات شمیر مرکه شویو ښځو یوناما ته یادونه کړې چې د دوي کورنۍ دوي نه دي هڅولې چې د تاوتریخوالي راپور ورکړي.

په همدې ډول ټولنیزې — دودیزې کړنې د قانون د انفاذ په ادارو کې چې د هغو د ښځو سره کار کوي کومو چې د تاوتریخوالي راپور ورکړی دی ، هم منعکسې شوي دي او تل یې ښځې په خپله د موجود وضعیت لپاره مسؤلې شمیرلي دي. یوناما موندلې چې تحقیقات تل پر دې تمرکز لري چې د نارینه وو په پر ځای قصور او ملامتي په ښځو کې و لټوي. د قانون د انفاذ د کارکوونکو دا ډول چلند د دې لپاره خنډ ګرځي چې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي قضیو ته اړینه او لازمه پاملرنه وشي.

د افغانستان د قوانینو او په اسلام کې د ښځو د دندو او حقونو ناسم تعبیر هم په پراخه پیمانه لیدل شوی چې د تاوتریخوالي قربانیانو ته دا باور ورکړي چې د دوي پر وړاندې تر سره شوی تاوتریخوالي مشروع او درست وو. د ساري په ډول ، په ټولنه کې عام تصور دا دی چې د اولادونو حضانت به تل پلار ته ورکول کیږي په داسې حال کې چې د افغانستان قوانین د زامنو د حضانت حق تر ۷ کلنۍ پورې او د نجونو د حضانت حق تر ۹ کلنۍ پورې مور ته ورکوي.[۷۴] زیات شمیر مرکه شوو ښځو ویلي چې دوي د خپلو اولادونو د حضانت له لاسه ورکولو د ډار له امله په خپله خوښه تاوتریخوالي ته غاړه ایښې ده.

## ۷.۷ اقتصادي زیانمنتوب

یو شمیر زیاتو مرکه شویو ښځو د همدې تحقیق پر مهال او همدارنګه د یوناما د پرلپسې څارنیز کار په جریان کې ویلي چې دوي په خپله خوښه د تاوتریخوالي څخه ډک سلوک منلی ځکه تل د دغه سلوک عاملین د دوي مالي ملاتړ کوونکي وو. په افغانستان کې د ټولنیز مصؤنیت د پروګرامونو نه شتون او همدارنګه د ښځو د استخدام د ټیټې کچې په پام کې نیولو سره ، ښځې له مالي لحاظه په عمومي ډول په خپل پلار ، میړه او یا ورور متکي دي. د دا ډول کسانو پر خلاف د تاوتریخوالي شکایت درج کول تل په دې مانا دي چې دوي خپل مالي ملاتړ له لاسه ورکوي ، چې د ټولې کورنۍ لپاره ناوړه پایلې له ځانه سره لري.

کله چې د تاوتریخوالي عاملین بندیان کیږي ، د دوي د کورنۍ غړي چې د اقتصادي پلوه په دوي متکي وو ، د مالی ملاتړ له لاسه ورکولو د تریخ حقیقت سره مخامخ کیږي چې د بندي شویو عاملینو لخوا دوي ته برابر کیده. د امن خونې تل لنډ مهاله چاره ده او یوازې په ډیرو سختو او ناوړه قضیو کې تر لاسه کیږي. په امن خونو کې ژوند کول هم د یو ډول ننګ او بدنامۍ سره یو ځاي دی او کومو ښځو چې په امن خونو کې ژوند تېر کړی وي په ټولنه کې د دوي بیا ادغام هم د ننګونو څخه ډک دی. اقتصادي زیانمنتوب د ټولنی له خوا د پرلپسې بدنامي د ګواښ سره مل دی چې پر دوي باندې د " زنا" تور لګول کیږي او دغه مساله د تاوتریخوالي پر هغو قربانیانو باندې هم تطبیق کیږي چې کار کوي او په مستقل ډول سره ژوند کوي. د دې په پایله کې ښځې تل اړې کیږي چې یا خو د خپل پلارني کور څخه پناه وغواړي او یا هم د طلاق په صورت کې د دوهم ځل لپاره واده وکړي.

---

[۷۴] ۳۰ شمیره لمن لیک وکورئ.

## ۸. پایله

په افغانستان کې د تاوتریخوالي د قرباني شویو ښځو لپاره د ځانګړي حقوقي سند د تدوین او د هغه د پراخه پلي کولو له لارې د ښځو د حقوقي ساتني په ډګر کې د پام وړ پرمختګ تر سترګو شوی دی که څه هم یو لړ مهمې تشې لا هم شته چې باید هغو ته رسیدګي وشي چې ښځې وکولای شي د نړیوال بشري قانون د معیارونو سره سم عدالت او **تاوان** ته لاسرسي ومومي.

د تاوتریخوالي عمل د جرم په توګه ګڼل د مجازاتو څخه د معافیت په وړاندې په مبارزه کې یو مهم ګام دی خو اړتیا ده چې د یو لړ داسې تدابیرو سره یو ځای وي چې ښځو ته داسې ممد چاپیریال تیار کړي تر څو وکولای شي د ځان په وړاندې د تاوتریخوالي د عمل راپور ورکړي ، اغیزمنو چارو ته لاسرسي ولري او له ډار څخه پرته با وقاره ژوند وکړي.

یوناما یو لړ قضیې ثبتې کړي دي چې په هغو کې ښځې د حقوقي تشې په اړوند چې وکولای شي کافي مدني لارې چارې وړاندې کړي خپله ناخوښي بیان کړې ده او د دوي د خوندیتوب ،د حضانت حق ، د نفقې حق او د ملکیت حق ته په رسیدګي کې پاتې راغلي دي. تر هغه مهاله چې دغو اندیښنو ته په مناسب ډول او چټکۍ سره رسیدګي ونه شي د تاوتریخوالي قرباني شوې ښځې به په بیساري زیانمنیدونکي وضعیت کې پاتې وي او د تاوتریخوالي څخه د خلاصون او تیښتې په موخه لږې او محدودې لاري لري. د جزایي عدالت د سیستم کمزورتیاوې چې نه شي کولای ا حتساب ډاډمن کړي او ښځې د تاوتریخوالي څخه وساتي چې عدالت ته د تاوتریخوالي د قرباني شویو ښځو د لاسرسي په لار کې د یوه کلیدي خنډ په بڼه پاتې دی.

منفی ټولنیز کردارونه او همدارنګه د ښځو د حقونو په اړوند د مذهب څخه په پراخه ناسم تعبیر د هغو ښځو په وړاندې اضافي خنډونه جوړوي کومې چې غواړي د تاوتریخوالي څخه د ډک وضعیت په اړه راپور ورکړي او عدالت ته لاسرسي ومومي. د یوناما څیړنه دا باوري کوي چې دې ته اړتیا ده چې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي غبرګون باید په داسې ډول تر سره شي چې د دغه پدیدې لاملونو او د هغو د ناوړو پایلو ته په سمه توګه رسیدګي وکړي. د ساري په ډول ، داسې تدابیر باید ونیول شي چې د ښځو اقتصادي ځواکمنتیا ته وده ورکړي او په ټولنه کې د هغوي بیا ادغام هغه کلیدي تدبیرونه دي چې د ښځو په وړاندې تاوتریخوالي ته غبرګون په لړ کې د حکومت په لومړیتوبونو کې شامل وي.

په دغه څیړنه کې چې د منځګړیتوب زیات کارول په پراخه پیمانه روښانه شوي دي د دې ښکارندوي دي چې د تاوتریخوالي قرباني شویو ښځو ته چې د عدالت او خسارې په لټه کې دي د لاسرسي وړ ، ګړندي ، ارزانه او له دودیز پلوه د منلو وړ حل لارو وړاندیز کوي. حال دا چې د منځګړیتوب دغه پروسې په ځانګړي ډول د قرباني شوي کس وړیا رضایت تر لاسه کول ، د پروسې رڼوالي ، خپلواکي او همدارنګه چې څوک او په څه ډول به دغه پروسه پر مخ بیایي په اړوند وضاحت او د یوې مناسبې پایلې او هر ډول پریکړې چې د دواړو خواوو په رضایت سره تر سره شوي وي د تعقیب کولو ډاډ تر لاسه کول ، د بشري حقونو اندیښنې را برسیره کړي دي. یوناما سپارښتنه کوي چې ټولې هغه اداری/موسسې کومې چې د منځګړیتوب کار تر سره کوي باید په یوه حقوقي چوکاټ کې تنظیم او په سمه توګه وڅارلې شي.

د دې خبرې په پام کې نیولو سره چې یو زیات شمیر قضیې د منځګړیتوب له لارې حل او فصل کیږي او ځایي دود هم پر منځګړیتوب باندې اصرار کوي ، یوناما یو وار بیا تکرار وي چې پر ښځو د تاوتریخوالي جدي جنایي قضیې باید د قانون ، پالیسۍ او کړنې په حیث وګڼلې شي او د منځګړیتوب له لارې نه بلکي د عدلي تعقیب او محکمو د پریکړو له لاري ورته رسیدګي وشي.

یوناما د حکومت څخه غواړي چې د دغه راپور په سپارښتنو باندې — د حکومت د ملاتړ لپاره د یوناما د پرلپسې هڅو د یوې برخې په ډول عمل وکړي تر څو د ښځو او نجونو په وړاندې تاوتریخوالي پای ته ورسیږي.

| د تاوتریخوالي پر عاملینو باندې وضع شوي شرطونه | د تاوتریخوالي پر قربانیانو باندې وضع شوي شرطونه | پر درېیمې خوا باندې وضع شوي شرطونه |
|---|---|---|
| • اعتراف او یا د پښیمانۍ اظهار<br>• د بخښنې/عفوې غوښتنه<br>• د نه تکرار کولو ژمنه<br>• قرباني کس ته د تلیفون برابرول چې د تاوتریخوالي د تکرار په صورت کې مرسته وغواړي.<br>• د مخدره توکو د استعمال د بندولو ژمنه<br>• له ماشومانو څخه د تاوتریخوالي د قرباني کس نه بیلول<br>• د ښځې او میړه د کورنۍ په چارو کې د کور د نورو غړو له خوا مداخله نه کول<br>• د کور د نورو غړو څخه (د ساري په ډول د خسر کور) جلا کور نیول.<br>• ژمنه کول چې بیا به کور نه پرېږدي.<br>• د اړیکو د ټینګښت لپاره د تاوتریخوالي د عامل د کورنۍ له خوا په بیلابیلو مناسبتونو کې د تاوتریخوالي د قرباني د کور د غړو رابلل.<br>• د تاوتریخوالي د قرباني شوي کس او د هغې ماشومانو ته د لومړیو ضرورتونو (لکه خوراک، کالي او د ژوند نور مصارف) برابرول.<br>• د تاوتریخوالي قرباني شوي کس ته د خسر د کور ورته خواړه برابرول.<br>• د تاوتریخوالي د قرباني شوي کس او یا هم د هغې د ماشومانو د ناروغۍ په صورت کې دوي روغتون ته بیول او د درملنې خرڅ او مصرف ورکول.<br>• د ګرمې خونې برابرول<br>• د تاوتریخوالي د قرباني شوي کس ته اجازه ورکول چې په کورنۍ کې د مړینې د پیښې په ګډون، د خپلوانو څخه لیدنه وکړي.<br>• ماشومانو ته اجازه ورکول چې ښوونځي ته و لاړ شي. | • د ۲ او یا ۳ میاشتو پورې د طلاق د دعوا ځنډول.<br>• د اړیکو د ټینګښت لپاره د تاوتریخوالي د عامل کورنۍ او د قرباني شوي کس کورنۍ په بیلابیلو مناسبتونو کې د یو بل رابلل.<br>• د کور څخه د وتلو مخکې د کورنۍ مشرانو څخه اجازه غوښتل<br>• د طلاق د تر لاسه کولو په موخه د ولور د غوښتلو چې د ۵۰۰۰۰ افغاني (کابو ۸۷۵ امریکایي ډالره) اضافه شي، ډډه کول. | • د راتلونکي میړه له خوا، هغه کس چې نجلۍ د هغه سره له کوره تښدیدلې وه، ۵۰۰۰۰ افغانۍ (کابو ۸۷۵ امریکایي ډالره) د قرباني شوي کس ورور ته، هغه کس چې د واده کولو پر خلاف د تاوتریخوالی عامل دی، ورکول.<br>• د راتلونکي میړه له خوا، هغه کس چې نجلۍ د هغه سره له کوره تښتېدلې وه، د ۳۲۰۰۰۰ افغاني (کابو ۶۰۰۰ امریکایي ډالره) د ؛شیربها؛[۷۶] په ډول د قرباني شوي کس پلار ته ورکول. |

[۷۶] شیربها یوه اندازه پیسې دي چې د زوم د کورنۍ لخوا د ناوې کورنۍ ته د واده د مراسمو د یوې برخې په ډول ورکول کیږي.

| | | |
|---|---|---|
| • د تاوتريخوالي قرباني شوي کس ته اجازه ورکول چې ځان ته کار ولټوي او خپل د کار د حق څخه ګټه واخلي.<br>• د تاوتريخوالي د قرباني شوي کس د دو زامنو څخه هر يوه ته يې د دوه نمرې ځمکي برابرول.<br>• د تاوتريخوالي د قرباني شوي کس ته په مستقيمه توګه ۱۴۰۰۰ افغانيو (کابو ۲۴۵ امريکايي ډالره) د عفوې کولو او "*مرهماني*"[۷۵] په ډول ورکول<br>• د نجلۍ د کورنۍ له خوا د تاوتريخوالي د عامل کورنۍ ته د (۵۰۰۰۰ پاکستاني کلدارو، کابو ۵۰۰ امريکايی ډالره) د نامزادي د مراسمو د خرڅ په ډول بيرته ورکول. | | |

[۷۵] د ځايي دودونو پر بنسټ، عامل بايد يو څه پيسي د مرهمانه په ډول ورکړي چې دا په يوې مشخصې موضوع کې د خپل تقصير د منلو په معنا دی.